

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړانګه

یوه وړانګه په لاس ورشي
آدم ولاړ شي قدم وړاندي
بیا پیړه په ځای ولاړ وي
او تیري وي لاندي باندي

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورانګه

دکتاب نوم : ورانګه
ویناوال : ګوهر رحمٰن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین «هنریار»

بسم الله الرحمن الرحیم

پهٔ ویاړ

د هغه ټولو هریالو

چې د بنیادمو د ښتونو ځنې

تېځندې د پښتو ځولانې او د -

لاسونو ولېچکونه پرې کوي او دا

رنګ آدمزاد خپل قجیر قامت

ته ور جګوي او ژوند نور

غوڅانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU
7550

څوک يې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نوړېدی[1] شي

ځان په ښش ولې لیکه[2] کړي
چې په شتوکې اوده ړېدی شي

څه په سر آسمانوې يې
که آسمان ځمکه کېدی شي

په مټ څه لره سر په ده
چې په مټ نه رغونېدی شي

په خړدک[3] دي ولې سود[4] شي
چې په خېز نښترېدی شي

د پړو[5] تل[6] ته ولې پلی[7]
له بريالو چې ملېدی[8] شي

د باز اداره هنر دي نه نه ده
که نه يې چتي بازېدی شي

ليت او لار چې د مېړه وي
فطرت ټول ولجه کېدی شي

---

۱- نوړېدل = بدلېدل، ۲- لیکه = حساب، ۳- خړدک = یوبوېتی، ٤- سود = مطمئن
۵- پړه = ماتې خوړل، ٦- تل = ډله-جمعیت، ۷- پلتل = یوځای کېدل، ۸- ملتل = ملګېدل

که سواره لوی فرعونان دي
که کلیم[ع] شي کوڼېدی شي
د برې لاري بند نه دي
که له سره ځوک تېرېدی شي

لوی کتاب د مېړښکارانو
ګډه په وینه کې د ځان کا
بیا د خټو کوکوښتان ټول
الوتونکي باتوران کا

د کلیم دودونه خپل کا
ړانسکوره زورجهان کا
پرېباسلي او نتلي[1]
د دوران قهرمانان کا

هغه څوک چې مېړه خپل دی
ټینګ په ننګ او په خپل ځېل[2] دي
د زمرو مارېي[3] یې ژوند دی
چې د شنو زمرو د سېل دی

---

۱- نتلی = ناتارشوی، ۲- ځېل = هوډ، ۳- مارېي = ښکار.

ترمې وینې دی سکروټې
ترمې وینې هم رامبیل(۱) دی

د خپل تنګ دې پاتې شوي
په کولنډ(۲) دی که په ښکېل دي

رشی خنګه بې کونډۍ(۳) شي
چې څانګې(٤) همه رشپېل(۵) دي

دا طبیب به دې څنګ روغ کړي
چې یې چارې د شاخېل(٦) دي

چې د دروزې(۷) یې تنې وي
په وینو پړاته غلبېل دي

چې جامه یې کاسیرې(۸) وي
څه په چېل(۹)، څه که بې چېل دي

د باتور انګې(۱۰) وروستې ده
مشرۍ که په چارخویل(۱۱) دي

---

۱- رامبیل = یوګل، ۲- کولنډه = کټ څه چې د غوږي، څاروي څټ تړي اچوي چې د آزاد ګرځېدو نه یې منع وساتي، ۳- کونډۍ = کانې ګټې - خلېل، ٤- څانګې = درې غابې ۵- رشپېل = چې د غلې رشی پرې بادوي، ٦- شاه خېل = چې شاه خیل کوي یعنې څرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷- دروزه = د غنمو ډنډر - تیلی، ۸- کاسیرې = بد لمنی ۹- چېل = پروني، ۱۰- انګې = یوه لوبه چې وايي انګې انګې مل دی څوک دی ،
۱۱- چارخویل = قرقره،

نه د دین، نه د سا[1] دین دي
خوار متازه د سویبل[2] دي
شاید بیا خلیل زرغون کړي
"مومنان" تول آذرخیل دي

○

کلیمه لویه کیمیا ده
لا ناپوهه پر دنیا ده
څوند په هر اړیکی وي چې
کلیمې ته یې اړتیا ده

○

د جهان د سمام[3] پېښې
وړې تندي باندې مېړونه
د ملځی نه کله کېږي
د باتور، د باز کارونه
ننګیالي په دار بر سېره
غوړوي خپل منبرونه
په پاڅون چې "زه یم" نه کړي
خوشې پوچ هغه مونځونه

---

۱- سادین = ارولی ځمکه، ۲- سویبل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس- توزیز

په جرقار چې لرو بر کړي
بلالي هغه بانګونه[1]
چې دا حُمکه دخدای کور کړي
دي هغه دخښتن ملونه

ننګيالي دي شاه ميړونه
لکه حق يې کړه وړه وي
د ننګيال په مټ، په توره
دلته ارد خښتن کړه وي
خولې ماتې په فرعون کړي
د ننګيال د مزري زړه وي
تورښنګلونه[2] خوندي وي
حق ننګي يې غرين کړه[3] وي
ساه يې واچوي جوش[4] کې
له پيړو پيړو چې مړه وي
د ناحق وړه[5] بتول پړه کړي
وړه هغه کړي، چې تل پړه وي

---

۱- بانګونه = آذانونه، ۲- تورښنګلي = باطل کاره، ۳- غرين کړه = قلا- سنګو
۴- جوش = تنه، ۵- وړه = بريالي.

د ګیدړ په اوږو نه شي
چې په غړمب د ښتو زمرو شي
په تسپو موسلو نه شي
چې په تورو، په نېزو شي
په منښتو[1] نه بو دېږي
چې په وینو په خولو شي
چې د باز شوغې ته اړ وي
هغه څنګ له تو تکو شي!
ننګیالي یې شي کړولی
چې په دار، په غرغرو شي
د تاریخ بهیر کړولی
کله څوک بې هو ډیالو شي؟
د راسمنو چارې کله
د ناړامو[2] په لینګو شي
د ژوندون د میدان ګټې
په ډال غاړو توریالو شي
د څیرک میړانه کله
له درست کلي د ړندو شي

1- منښته = زیارتونو ته دوړو دپاره په ځان څه منل، 2- ناړام = ناغېړ-ناراست.

چې رنځور باویړی(۱) وکړي

پوچې هیلې د داروشي

آدم وګوره ای مارکسه!

کله یې سود په کورکوشي

د څانګو د کوچنی نمړی(۲)

پوره څه رنګ په ځلموشي

چې د نمر د روڼاوي وي

روڼ په ښنګ په اورکو(۳) شي

عقل څه خونې اتې دی

راسوړی(۴) په خپلو ملوشي

د ځیرک سر پوره والی

د حرص په سیپاروشي

چې له مال خبره واوري

پت په سربانډي پاله شي

کائنات چې په منګل کړي

داسې سرې باله شي

---

۱- باویړی = بابیړی = دناروغی بیا تاندیدل، ۲- نمړی = جامي، ۳- اورکی = اوربلکی
۴- راسوړي کیدل = راګرځیدل - راخلاصیدل - راختل.

لوېښتي نه تلي ضبا څوک
هم یو «زه یم» به تاله شي

ښکلی هغه چې ښېیوه[1] یې
یو د «زه یم» په پساله شي

زه یم هرکله ځلمی دی
دې وجود چې زوړ ځاله شي

هغه ورځ به ستر سحروي
چې دا ځمکه یو کاله[2] شي

په یو لوی سین کې غرلی
چرې، چړ، لښتی، ویاله شي

○

د کتاب حد ماتی مه شي
هره لاره چې تړي

چې د ژوند د خیره نه وي
ورانوه لارې زړې

حق به هله مېشته وکا
لومړی غیر چې وشړي

یا سړی یاد څړی شه
حق ناحق ولې ولړي

---

۱- ښېیوه = دول-ښایسته والی، ۲- کاله = کور

زیبنا کیان چې له مینځ ورک شي
پرګني به شي مړي
لوی آتیان لکه اوګر[1] کړي
د جګ غر تېرېږي وړې

○

ستور څار کو دواړه کسي
په څار لوګړل تنها کې
نری وټ یې چرته بیاموند
برد ستورو په دنیا کې

○

له کاروانو او له شګو
سره زر وښکل کیږیګرو[2]
الوول حق وناحق دي
څنګ تراوسه ستړکورو؟

○

د بوذر[3] د کندي خلق
د آذرود کندي دي
که هرڅومخ په کعبه دي
له بتانو پیوندي دي

---

۱- اوګره د څارو ود خوړلونه وروسته پاتې کېدونکی ګیاه یا تاڼتې، ۲- کیږیکره کیږ کوونکی

جوړوي د ښېښو مېنې[1]

ځېرکان خوښېبه کړوي

د وختونو په ناتار کې

چې يې وکوري د بړ[2] وي

○

د وجود نيستي بلا ده

پرې لړ ختسو ما رکسان ژاړي

سر نيستي ده د نيش[3] "زه يم"

دوه نيستي کليمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو

د صورت هسې د وړېږي

ولې "زه يم" يو توکيز[4] دی

يو توکيزی نه نړېږي

○

حيواني وجود د څه دی؟

د حجرو[5] الوولتيا ده

او حجرې د خاورين توکو

خپل ترمينځه اتوولتيا ده

---

۱- مېنه = کور، ۲- دبړ = سنګسار، ۳- نيش = ناشته - نيشت، ٤- يوتوکيز = د يو توکی نه جوړ - چې کډونيزه نه وي، ٥- حجره = Cells - ژوندينکی.

دا خاورینه واړه توکي
د بړیښنکو غوښې دي
او بړیښنکو ته چې ځېر شې
تشې تر قنده ځېپې دي

○

د ین همه واړه سره زر دي
مذهبونه ټول زرنیخ
د ین ژوندون کاندی غورځانګه
مذهبونه یې چارمیخ

○

ګرلاسی کندوان یې ډک شول
چې جَب جوب شول په خولوکې
ځار له هغو توریالیو
چې په ځېږ دي سرځیږو(۱) کې
غوږه(۲) ټوله دې په ځان بده
تش لمن که یې پسرلوکې
ساده ګوري ملغلري
ځُسا ډنډوکو، خرخوږوکې

---

۱- سرځیږه = سرپږه ، ۲- غوږه = تومت - کُرم والی - ملامته

دا چې ګوابښ په ستورو کېږي

ته هم زاوره څه نېـزوکې

څه ناویاته چاره وکـــړه

مېـړنیه ! په تلو تـلوکې

○

کوړیمار(۱) چې د بمبل وو

هغه سر په مُونډو(۲) دی

کړولۍ(۳) چې د باز وې

پډلولکو په شوغــو دی

چې د برید اوږ غـدی وُ

د تسپو د موسلـو دی

چې جرګې پرې ښایسته وې

هغه شرم د جرګــو دی

چې ښتن د لـوی اخور وُ

اوس د پوچو کښېدو دی

د تیرو تورو بوُر(۴) ګی وُ

د بې سترګو د کنډو(۵) دی

---

۱- کوړیمار = داتمان د مخې په لوبه کې په بمبل (په سرکې) د کوړې (حلقې) د ننتکی ویشتونکی

۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بُت د تیلې خصې نه ښکته وچې کښې لوېږي، ۳- کړولۍ = د ښکار ځیرکولو، ښارلو د پاره د باز تاویدل راتاویدل، ۴- بور = زمری، ۵ = کندی = چم، محلت.

د قرآن ځني نامسنده

څه د خوشو عقیدو دي.

بازداري یو لوی هنر دی

ته په یو ښیله[1] بازداري

چې نه لري جوړ

په نامه باندي میشکاري[2]

تش غړ بازو وته ناستې

څه که ځوېي د لوی یلاري

ته میرښکاره کړېږ غواړې

په ښه ښه مرداري

یې په تومنه له ویاړلو

خو په چارو کې د ویار[3] یې

له قرآن په غیر هٰذا

بې صلوٰة مونځ ګذاري

کله سرګریوان ته کوز کړه

چې داولې دومره خواري؟

---

۱- ښیله: د څرمنې لاسمه چې د باز کښېنولو د پاره یې لاس ته اچوي، ۲- میشکار: بازوان، ۳- ویار: شرم.

چې پښتو لنه قرآني وي

داسې به شهسرې[۱] وي

دا تنزري تاروکي به

بیا بازونه وهندي وي

دا پرېوتي، دا انست[۲] به

بیا ښنستري آسماني وي

چې نومړې په قام قام دي

بیا به ټول یو آدمځي[۳] وي

د ننه شخولې[۴] او کاټي[۵] به

صبا توري او توبري وي

په ونډوی[۶] ځمکې دننه به

نه ځمکوال، نه شیخ ملي وي

نه به پولې، نه بیلتون وي

نه نها، نه زمایي وي

یوآدم، یو آدمتاله[۷]

په کښن رنګ به یورنګي وي

---

۱- شهسرې = سترسرې، ۲- پرېوتي انست = بوهتي دی، ۳- آدمځی = د آدم زامن،
۴- شخوله = درسته، ۵- کاټي = تیکی، ۶- ونډوی = داسې حلال کړې ځلروی چې پکې خلق برخې (ونډې) ملستي وي، ۷- آدمتاله = ټولنه چې پکې د ځمکې ټول استوګني (ځمکزی یا آدم زی) راټول وي یا سره راټاله وي

آدمځوني[1] به يو کور وي
وران به کورکې کورکي وي
درناوی به وي په جسو
سپکاوي به بې جسي[2] وي
نه مريي نه به څښتن وي
نه به غټ، نه به نري وي
نه کاواک، نه به بې واک وي
چې الله به ټولواکې وي
ټولنوال به ټولنوال لـه
رب، رحيم وي، او ولي وي
هم به يې کسب خالقي وي
هم توره[3] به يې رازقي وي
وي پاخون لکه يو تن به
يو تاله به مختکي[4] وي
له ختيځه تر لويديځه
به يو ستره ورورولي وي
په حدو نود کتاب کې
به دعقل خپل مخي[5] وي

---

١- آدمځوني = ځمکه، ٢- جسي = ورتيا = اهليت، ٣- توره = قانون - توره - ترلې لاره - لاره، ٤- مختکي = مخکې تګ، ٥- خپل مخي = خپلواکي - آزادي.

سین، د غاړو په درنښت به
تل تر تله غرځنګي وي
یو ځای به به له ټولو
ټول له یوه به لوکي وي
له قبلو دي ګډ وړو
به یوه کعبه موندي[1] وي
له زړه اور او رکو به
د ځړی یو رنایي وي
سړی ټول به سره سیال وي
په فطرت[2] به یې ستروا کي وي

ستا خیري درست کائنات دی
ته لا کوز په خرخښوې[3]
پولې پولې ده لا ځمکه
خپل ترمینځه په دښنوې[4]
ژوند له تنه کډونیزدی[5]
ته ځان ځانی به ترخوې

1- موندمه = راکسل ناوی- د غوبل د مینځ غوبي، 2- فطرت = نیچر- د بنیا دم نړیتر
نور ټول کائنات 3- خرخښي = جګونه، 4- دښمنه = دښمنی، 5- کډونیز په کډه هستیدونکی.

ځمکه یو کور څکه نه شه
ته ترڼن د کورکوټي
یوکوړمه[1] واړه آدم دی
تڼ په قام، په قبیلو یي
د یوې حجرې زېږنده
د حجرو په بیل کلویي

کړه بنا یو آدمتاله
وران کا پولې سرحدونه
د خپل تن حجرې کا ټولې
دا خواره واره قامونه
ستامرام یو وروولي ده
نه ملګري ملتونه
یو بیرغ په ځمکه جګ کا
کوز کا واړه بیرغونه
داوسلې د مرګ لاهو کا
سُر د امن کا تارونه
پدې ځمکې ـ آدمځوني
بیا برسیر کا جنتونه

---

۱ـ کوړمه = کورنۍ.

یو کتاب دی سرتوره[1] کا

نور ونغاړه کتابونه

بیا آزاد په آدمزاد کا

پارچاو[2] شوی نعمتونه

○

زول چاپېړ سور الوزي

دړه ویزاره راپرېوځي

له دې چې قند ناتار به

هم پاخه بښختې وځي

چې د ژوند ځله یې مړه شي

چې یې ساه دلینګو وځي

راخوړ شي پرې دلوړو

اور په خوله ځوځي ماځوځي

د قرآن دعوه خو دا ده

چې مؤمن په هرچا برد ی

دعوه کیږ دکتاب کوره

د همه قامونو لر دی

---

۱- سرتوره = دسرقانون - اساسي قانون - بنسټیز قانون، ۲- پارچاو = وېب - بند.

د زردارو په تړلني
دي ګټونکي په بايلني
د شته منو شته مني ده
د نيستمنو له نه بيښني
د ماړو کوښي[1] جوړيږي
د تش باڼو[2] له څرمني
د زردار ماڼۍ ولاړې
د کارګر په تڼي پلني
د ړک[3] لاس سپينه جامه ده
د تش لاسو په ريمني[4]
بده ورځ د لولنګرو[5]
دازل نه دي ليکني
د باطل تولنه پايي
د مذهب په سروينځني[6]

---

۱- کوښي = پيزار، ۲- تش باڼي = نيستمن، ۳- ړک لاس = چې لاس يې ړک وي
٤ - ريمنه = خيرنه - خيچنه، ٥- لولنګر = بې ځمکې - چې ځمکه يا دوبتس
نه لري، ٦- سروينځل = ملاتړ کول - پلوي کول.

○

وګړي ټول که آذري غواړي

ښځینه لا تا نه خلیلي غواړي

د فرعوني سپاره کوزولوله

واړه وختونه کلیمي غواړي

په تشو تیکو کله کېږي کېږي

دننګ ډکړلا شه حلمي غواړي

وګړي ټول سرړقوي او پایي

حق د میړه غوندي ښوندي غواړي

ښکېلاکي عمرد ښاروودي وګوري[1]

ښوندي آدم به مخ کښي غواړي

د اباسین خونړي نیزاوچلي[2]

د جالیوانو سرهنګي غواړي

په هسک اوتل دحقیقت لټول

تل سربېري لیوني غواړي

چې د ښځینه لاره د بکولي شي هم

ښوندا سي زین او هک سرې غواړي

---

۱- وګوري = خبردار ، ۲- نیزاوچلي = سیلاب او چپې.

○

دهِګځ قامونو په خرخشوکې
واړه قامونه بې هیڅه دل شي
دمیکیاولي د شهزاد ګانو
په ژمنو خپلو کله عمل شي
خپل ګنډ کونه به پرې ناتار کړي
ګډې که ټولې زمرې ته تهل شي
غښتلي متې دځان کلا ده
کمزوري متې دځان اجل شي
که سر ببري هو دیالي پاڅي
په ریږکو[1] به داهِګ بدل شي

○

چې دحق سره په لار دی
لکه حق هسې بې څار دی
چې دحق دلارې بېل دی
په دنیا په آخر خوار دی
یو ویاړلی دحق رنګ دی
بل هر رنګ آخر دو ویاړ[2] دی

---

۱-ریږکی = کوچنی- وړوکی- ناشی، ۲- ویار = شرم- پیغور.

چې تېغه[1] کې حق ته ولاړ دی
د خدای هغه څوک په کار دی

د خپل "زړه" نا روزونکی
خپل ځانی په ځان ناتار دی

د مېړونو مټ که ګوري
ګل ورین هم تن ته چار دی

په توله چې د ټول ژوند دی
حق، او ښکلی هغه کار دی

چې د خېر د آدمزاد دی
نو په خدای هغه مختار[2] دی

چې ناسور په مخ د ځمکې
شیخ ملي وي دا دوترې

آدمزاد به دوه ټپي وي
لرې برې نورې لرې

د پښتونو د لرمون به
زړینې لوږې او نهرې

---

۱- تېغه = برش - کږه وږه - نقش -
۲- مختار = روېدار - دروند.

شي ځوړلي خلق به

بې دولتي (۱)، يوه ځړي (۲)

درپه درخاوري په سر به

پرکښې وي لولنګري

د هغو لويو ښارونو دا —

خپلو بدو له اشري

عقوبت په غرغندو شي

چې دکيا (۳) وي اورد سري

تاله تک د ادم ارد دي

په يو ورځې برابري

چې پرې د رومي کائنات ټول

ستا هم هغه لار مخبري (۴)

داچې خان خانتور (۵) بولي

داچې هرڅه ته شمله دي

نيسمنان په کمند (۶) نيسي

وايي سپک دي ارکجه دي

---

۱- بې دولت = چې دولت نه لري، ۲- يوه ځړي = چې يوازې وي، ۳- دکيا = چې لوګي کوي،
۴- مخبري = په برمخ، ۵- خانتور = خان چې ټول پرانستل کوي چې د توري خان وي،
۶- کمند = کم ذات - کم اصل - کم سيال



PROPERTY OF ACKU 7990

له ازل، وا یې برېیال یو
نوره په برخه شاګنډ(۱) دي
دوی له مخ د خدایه رَغ(۲) دی
نور له پښو یې زیږ نده دي!
کومه نوره یې د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟
د نېستمنو کوم ګناه دی
چې نېمګړي، نیم کوره دي؟
او په هره یو ستو لنه
پرهٔ، پرېوتي او روړه(۳) دي!
که د اصل کړې پوښتنه
آدم زی ټول یو حجره دي
له یوې حجرې راغلي
قام، قبیل، ټپه ټپه دي
لوړ ژور دی له زېښناکه
شته په نیشو(۴) آلوده(۵) دي
د بې وس د بې وسی نه
وسمنی را زرغونه دي

---

۱- شاګنده = چې شایې لګیدلی وي، ۲- رغ = جوړ، ۳- روړه = تباه.
٤- شته او نیش = شتمن او نیستمن، ۵- الوده = لښتی- اخته

له شته منو غلچکو بیا
مذهبونه بدرګه دي

د فرعون د کور د ننه
په پاخون آخر موسیٰ شي
د باطلو ښاماران ټول
تار پتار یې له امسا شي

○

عقل لیت دی، ړیوکی ده
پرې قدم قدم روانیږي
کلیمه هغه شهلیت[1] دی
چې ټول ړوند پرې جوتیږي

○

د آدم د شاه ځامنو
توری هر کله ړوندی دی
د وختونو په آسمان یې
په ځلا ستوري سپوږمۍ دی

○

د زړو پیرو کارونه — نه میړونه به بیا کړي
شاه میړه کړي هغه چارې — چې پیړۍ پس یې دنیا کړي

---

۱- شهلیت = شه + لیت = لوی لیت،

○

چې په ځان پلن[1] سوری نه شي
ټول جهان په ځان راتنګ کړي
له کوڼاره چې دمه شي
هغه توری نېزې زنګ کړي
هوډیالی نېزه باز کوره
چې په ماته نېزه جنګ کړي
له یوې بلې تېرې ته
د رګې[2] زمري غوڅنګ کړي
چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځنې څنګ کړي
ننګ په حق بانده کوونکی
لکه ځان باندې چې ننګ کړي
رنګ له حقه ځنې واخلي
بیا ورپاڅې جهان رنګ کړي

○

کلیمان د ژوندون لاره | رب دستړګوکې په ډک کړي
څیرکان یې په لیتون کې | ترغمرو نوسر غونډک کړي

---

۱- پلن سوری = په پسات پلن، ۲- رګې = پرهلرژلی.

○

دی پکار څه رنګ اړیــــکی
د آدم له ببل آ د مـــه ؟
دغه لویه کشـــــاله ده
او د ژوند لـــــویه کړمه

○

آدم دغه قــدر نه دی
انجړ بنجړ[1] شړونـدینـکی
یو موندړی[2] زړه یم اوده دی
د بدلون پدې څاندړه[3] کې

○

که آدم بې پوښــه نړی
څه پیر[4] مـخی رغانه وي
په ناتار د مــرګ صبا به
میراث مړي هدایره وي

○

د بدلون پدی ناتار کې — هم یو "زړه یم" دې څوندي دی
که صورت دی یواړتیا ده — نو دا "زړه یم" دی موندي دی

---

۱- انجړ بنجړ = الوول، ۲- موندړی = راکس، ناوی، ۳- څاندړه = همتړ- فویم سکلیت، ٤- پیر مخی = پیرخوړونکی، بدلیدونکی.

○

پیرخواره[1] یې له پښو یو سي

چې موندلی یې وي اومړی[2]

د کچه «زه یم» آدم وي

خپلو نغوتو[3] نه باد وړی

○

د آدم له «زه یم» پرته

نور هر څه چې دي نوربېږي

له هر زبړي[4] د هجري نه

لکه ځان هسې رازېږي

○

هم برحق هغه ژوندون دی

چې د «زه یم» په غبرګون دی

که وجود دی که ستوله

کار د «زه یم» یې پاڅون دی

○

چې د «زه یم» په شرنګ نه دی — روزنګوی[5] د بدلون دی

د هجرو په کنج کې اوسي — او د ستړکو تش الوون دی

---

۱- پیرخواره = پیوخوړونکی، ۲- اومړی = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غریزې.

۴- زبړي = هغه څه چې زیب ول کوي، ۵- روزنګوی = روزنه کوونکی - لویونکی.

ټول فطرت يې خوري تاليږه[1]

آدم ئې جدا جدا وړي

د ځاني سود غم خوړونکي

له حق لاري پښې پښا، وړي

چې په نورو خپله ويش کړي

خپلې برخې نه سيوا وړي

چې مشال نوروته جګ کړي

خپلې مخې ته رڼا وړي

ژوند او مرګ ئې دواړه سبکلي

د ځورلو چې دعا وړي

چې له خپل ميوه آګاه وي

د بشر درنې په شا وړي

اوښتون[2] د ژوند جامه ده

چې شي لټ . په هغو واوړي

---

۱- تاليږه = په جمع - تاله .

۲- اوښتون = انقلاب .

دژوندون په لویه لارکې
مشالونه بلول دي

د تیرو په تورتیپونو
لښکرونه خپرول دي

کتابونه ډېر ردجیل
سوزول او بډول دي

د آدم نه ډېر یادکړي
د عمرونو هېرول دي

که مذهب یې هم سروینځي
چې باطل دی نیښکول[1] دي

که خوندي دي په کعبه کې
چې بُتان دی لړول دي

په هر پل د پرمختیاکې
برابرا[2] شوي غورځول دي

چې ښکېل شوي په غورځنګ شي
ښکېلکونه یې غوځول دي

---

۱- نښکول = ورکول- په نیش لګول.

۲- برابرا = په پلنو ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سنداان تندي به چړې کړونځې شي
د درنده وپلکونو جوړکه پرې ناتاروي

د ميړه نيستي يوڅو ورځې نيستي وي
نه ميړونه شاعري نيسمن او خوار وي

د رند و عقيدو خلقو کې هميش له
ښښتنان د غړيدلو به په دار وي

چې بازونه يې په لاس کې چتي[1] کيږي
ځان به وپوښتي چې د اڅرنګ بازدار وي

چې توره[2] د حقملانو[3] خپلوي څوک
يو قدم يې په چاپه، بل په انکار وي

خپلې سترګې غړولي وړله بويه
که رڼا يې لاړ ليدلو له پکار وي

درباب خواږه دې نشته آدم خانه!
ښايي خلق چې له ميلسه[4] دې ويزار وي

---

۱ـ چتي = ورکوتي مرغي

۲ـ توره = قانون ـ لاره ـ منله

۳ـ حق مل = دحق ملګري

٤ ـ ميلس = مجلس

ننګيالی نه اخلي لاس له خپله ننګه
ابا سين کله پښه نيسي له غور ځنګه
چې تر څو د ظالمانو نوغې شته دی
حقملان راپستنه شي څنګ له جنګه
پوهکړی د بې پوهو نه قلنګ خوري
او تول لاندې د کليمو تر قلنګه
چې يې مټ د غليمانو وي کتلی
نه ويرېږي يې له تشه ډنګه ډ ننګه
د مردی توره ميدان کې لاسنه کېږي
خلاصه نه وي دکاټي[1] توره له زنګه
پچپل زړې کې زرغون شه او سمسور شه
څو دې نه ده لاکوټي[2] خاورينه ږنګه
چې يې جسم د تن په موړکو په پړواوړي
خود هغه ته وي کړنې د جهان ننګه

---

١- کاټي = تيکی - چړتون

٢- کوټي = د داني کڅوړه

یوبری دیوجنګ غالی دی خوندي که
بیا په بل میدان برېښنا اوتالندي که
چې دلوی ښتن د لاسو سره ښایي
شاځلمیا! ځان په داسې کاربندي که
په حجروپه جماتونوکې تورتم دی
دېیوې غونډې لنبه دې په تندي که
د میړه دځوی آوازله خلقو بېل وي
څوک به یې ښکه په تولنه کې ګوندي که
چې دخپل عمل لاره[1] ستړې کړل
څوک به ښکته هغه وګړي راژوندي که
له غوجلې دڅاروو به ښکه وځي
چې په مینه مینه ښت ته غوړوندي که
چې یې ویږه دنهورې له چا نه وي
هغې پاڅې بې وسان په ډاګ ګوندي که

---

۱- لاره = لور

خپلې غوښتې ته دغاړې
له خپل تنه پلوا(۱)ښنه شه
د ټپانده اباسين خپل
لکه غاړې په ساته شه
د کړېږ سختې په ځان کړه
پسته باز په الوته شه
په خپل ځان قيد ونه کېږده
زرغونه شه او بيا شته شه
پولې ړاښکه، پانګې(۲) کېږده
بيا په زغاښت لکه مېړه شه
د ښښتن د لارې مل شه
له ښښتن ځنې لا(۳)رغه شه
په ړيبلو چې ورک نه شي
په لوښه(٤) لکه واښه شه
دختيځ له الا الله -
لا الله د پرېواته شه

---

۱- پلواښنه = مروړې- پلکواښنه، ۲- پانګې = مېړ- ډک- مړام
۳- لارغه = لرغونې- وړاندې، ٤- لوښه = خصلت- خوی

په ټولنو لیوګان ګډ دي
هر وګړی لوی اوګر[۱] دی

لولنګ څکه په نیش دي
درناوی چې په دوستر دی

ټول په تومنه آدم زاد دي
څوک تاله، څوک تالانګی دی

چې درنه ډله[۲] یې مله[۳] ده
د هغو سوی په سر دی

داکندی دی د بې ننګو
څوک یې موږ، څوک یې نهر دی

هر ټولنه پانګه واله
د ځان بدوله اشر دی

عقوبت به غرغنده شي
داچې نن ډکیا[۴] سوسر[۵] دی

---

۱- اوګر = اولال، ۲- ډله = ګوند، ۳- مله = ملګری، ۴- ډکیا = لوګی. کوونکی، ۵- سوسر = د ډېرو سپیاکو او د چې نری نری لوګی کوي.

چې سپېړانه ښکلي بډې ښې
وا به نه خلي تورې څټې
په ګڅونو يې پسرلی شي
چې څوک ونغري سکروټې
خپله ګټه دئ نن څه ده ؟
چې ستايي د نيکه ګټې
د يوه ماته، باقي سوي
د تور ګټ سوي ډيوټ يې
نه نښتر او نه چنار شوي
څه د تورو خاورو خت يې !
دا ميدان د تېرو تورو
ستا مصري توري دي سمټي
چونک ايره يې پاتې شوي
وي انکار د درنې سټې
حق ننګا نو ته وريتېږي
د بې ننګ هرکاله بټې
لات منات چې ګډاري څوک
شي پخپله يخي ګټې

خرېږ، ځکه شوې، خیالي نه شوې

د «لا» شی ځنې شی نه شـــوې

د جـس تـرغی نه نا میـنده

نَل نچه شـوې کنی نه شـوې

تشه شخـوله ـ خـالي تـیکی

ببل توره، تو بری نه شـــوې

له حجـرېـ تر سـرې راغلې

لاپه «زه یم» سـرې نه شـــوې

له مـذهب چېـ ملسـتل دی

لـدې مرېـنې شـوندی نه شـوې

انځـاره کېـ چې دی پروت دی

هغه سـتر آدم زی نه شـــوې

مسنکیری درته آسمـان دی

ځکه باز، با تورزی نه شـــوې

هر آدم چېـ دی فرعون کړ

یې بلواک، ځانوَکی نه شـوې

---

۱ـ انځـاره انځور ـ زړی ـ نقش

۲ـ ځانوَکی ـ ځانواکی

د وګړو سالار پـړ دی
خرسواره چې شا هسواران کړي
د کوخو لارو کسو دري
ځلن ستوري د آسمان کړي
ګوګوشتان داو موختو
سندان سري اتلان کړي
لوړاو کوز سره یوسیال کړي
اړوپېچ[۱] واړه یوځان کړي
چې سړي يې نه سړي کړل
راغوزار هغه بُتان کړي
د لالونو په ځلقولو
د مشکنو بازار وران کړي
چې جس من پکې قدریږي
را د بر هغه دوران کړي
داد نوم مسلمانان ټول
په رېښتیا مسلمانان کړي

---

۱- اړوپېچ = خپلوکې په ضد ضدی - په غوټو پړو.

په میروکې د ښکلو نه راټوکېږي
سره پړوینو د لاله پکې جوړه ده

ننګیالي دي چې د لوی څښتن په تاریې
پوره ټه کړي د نړۍ ټوله بار[1]ه ده

ته تنزړی یې، د نیاده د بازونو
د ېرې ځکه ژوندون دی اد[2]اره ده

غزا وښوه که په نوم کلیمه کوې
زرغونه دې له ژوند کومه کلیمه ده

هوښیایي[3] په ټپوړوند دی، ښکار ترې شي
که نه یې نن هم پرته هغه دوګزه ده

د ګزي[4] غشی دې هر وخت په سر دی
په دیدوان[5] باندې دې اره پره، وره ده

صبا رانکه د شولان ګټو ته مټې
که دې نن ګټلی قام لره اوګره ده

---

۱- باره = مسؤلیت - ذمه واري - پړه، ۲- اداره = وړانه - کمټې - لوټې،
۳- هوښیایي = ښکاري، ٤- د ګزي غشی = دوړې پرې ګوزار،
۵- دیدوان = شیش - څیرکونه.

لکه خلق هسې ټولنه
لکه کوږ هسې يې غار
لکه اوبۀ هسې يې سورې
لکه پښه هسې پيزار
لکه باز هسې يې مارې
هسې باز لکه ميشکار
لکه ږيره لاوڼ هسې
لکه سر هسې دستار
لکه توره هومره کټه
رَشه هومره خومره کار
داوچت الوتو پانکې
دشهپرو په مقدار
د ږيوې ږنا ترکوره
نمر په ټول جهان اوڅار
د بې ننګه په رنګ دېږ وې
ننګيالي نه لري سار
چې د لارې اوښکو نه وي
په هغو جوړېږي لار

لا یې ډېر وکړي ګانډي
یو منصور خېژي په دار

د بې مټو وار ځنډېږي
د مټ دارو وي بې وار

د زمرو نه اخستلی
سورلنډی (۱) شي کله ښکار

د اتیانوس باری وي
په ملخانو کړمار (۲)

کلیمان نه شو ټول عمر
له خدايي چارو وتکار

---

مذهبونه دي پوچ شوي غربینونه (۳)
مذهبیان د خپلې ماتې بیرغونه

د هغو د "راتاندون" (۴) طمع عبث ده
چې مذهب یې رواسته (۵) کړېدی هډونه

په هغه سالو چې ځان له دوړېږي
دي عبث د انځورونو کړاوونه.

---

۱- سورلنډی = ګیدړ، ۲- کړمار = یو غړدی، ۳- غربین = یو ټوپک ،
٤- راتاندون = بیا راغبرګېدل ، ۵- رواسته = وراسته.

له مذهب یې چې تودې وینې کتکل شوې
مسلمان بایلل ملکونه سنګرونه

له مذهب ځنې لوی شرک په جهان نشته
لګولي یې په نیش دي امتونه

دمذهب دغونډلانو(۱) تنستو کې
ګل ډیوکی(۲) دي دعلم ډیوټونه

له مذهبه هک ځلمی ټول ریز کې شي
ړیزکونه کله کیږي لوی کارونه

ټکی ټکی دکتاب نن هم هغه دی
خو مذهب تري نه وښکلی دی ساهونه

چې تر څو دغه مذهب او دا مُلا دی
وي تالابه د تالا قامونو خونه

پوخ سنګر دی شاه مړدی ده
توربازي دی تیغ بندي ده
له باطل د ځان ژغورنې
یوه لاره ملا بندي ده

---

۱- غونډل = غټ غمی
۲- ګل ډیوکی = د ګل ډیوې

له فطرته دي پرده ده
له فطرت دي سرزوري ده
کلیمه دي سرتوب دی
سرتوب دي سرهسکي ده
د بل غم هم د ځان غم دی
دا پښتو، مسلماني ده

په ژوندی کلیمه بیا خلق ژوندي که
دالله وارو ورسته شوي بیا لوړي که
داچي خاوري یي له مخه نه چاڼیږي
د سپوږمۍ په دود مخونه یي پرتندي که
وروڼه وروڼه سره غوښي په چاړه کړي
له ټولیز ژوندونه ورکه ګوند ګوندي که
شاه میړونه له زړګونو ستونزو تیر شول
بېړۍ را ښکه خپل ملګري ګړندي که
د هغې بې ننګه خلقو مرګ روا دی
چې ګزران د بل په سوي کرپندي که
د پسرلي درنه وربځه شه په خوی کي
ځان وړښت، کله برېښنا او تالندي که

شاه ځلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلکونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هند وخلکو لاس تپول نه دی
دستر کو ور کاګیره تلل نه دی
د ایلتیانو(۱) کلي ورانول نه دی
د راسمانو یې سمول نه دی
که اوندي جوندي(۲) د دوپړک(۳) وي
د یکرنګانو غوځی کول ز دی
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب یې ځای ته برخېژول زده
چورنګوړکان هم کراولي کړي
لکه باز کله اوچت وهل ز ده
چې فرعونان یې موزي(۴) کران کړي
نو کلیمان یې تورنول ز ده
د آذرانو بتکورکي(۵) ښتول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

۱- ایلتیان = پساتیان - وراني پیدا کوونکی، ۲- اوندی جوندی = مزغروی چې غوڅې رښې نه وي، ۳- دوپړک = دورنګ - منافق، ٤- موزیکي = چې د هیڅ بنې نه وي تش کټ پړي ډک وي، ٥- بتکورکی = بتخانه.

د باتور په ښو شهپرو خپلولو
مښکیرک او غلیواز نه باتوریږي
دیو بُت په لړېدلو بُت غلیمو!
سومناتونه په کعبو کې نه بدلیږي
له کیکره د نښتر پیوند خوړوکی
نښتر هیڅکله نښتر نه پاتې کیږي
چې په پړوکو دي وژلي مذهبونو
هغه مړه په مذهبونو نه ژوندیږي
چې د زهرو ډک لښتي پرې راسواړ وي
دغه سوي چنارونه نه تاندیږي
د قرآن واړه رټلي عقیدې نن
د مذهب په کتابونو کې ساهیږي
د تیرو سره ملستي بناپیرګئ نن
د رڼا په تکی مرګئ ته ببریږي

○

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي
د زوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

د خپل "زه یم" سرهنګي يې سلامت يه
مړ ئیتوب نه - ملګري د یزدان غواړي

ننګيالو کړه غاړه ما ته اطاعت ته
په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنیا کې یو کار هم ناشوني نه دی
یومخیزي[1] ځیګر وره ځوانان غواړي

کشالې غوښتې نوري د آدم دي
ژوندا نه نوی تفسیر د قرآن غواړي

په لښکو د لیښتینکو کټې نه شي
د ژوند ستونځې مېړني قهرمان غواړي

په یو ماره که ګاوز شي، سود يې نه شي
چې ژوندي وي، نوی ماری زمریان غواړي

---

۱- یومخیزی = چې مخه يې يوه وي - د يوې مفکورې.

O

عقل هغه وهندی باز دی په لاس
چې د پر اوچت اوچت ښکار کوي

ښکته له ځمکې نه تر نمر، ستورتلین(1)
کراولي کړي، یرغلونه کوي

لوګین(2)، اوریږه(3) که یې لاره نیسي
له الوت کله پرهیزونه کوي

رهبر، کړاو دی ټول دعقل چې نن
بریښ دژوندی تومن مخونه کوي

دآدم کار دی کائنات پرزول
برهغه قام، چې داکارونه کوي

چې په فطرت یې ده لتې اړولې
دهسکو ستر ګو معاشونه کوي

عقل بهیر کړ غور ځسنګی دشعور
ویرویرانې ټول مذهبونه کوي

پیاده له عقل کوم وګړي چې دي
دبل موټازه دي سوالونه کوي

---

۱- ستورتلین = آسمانلاره - کهکشان، ۲- لوګین = دګاز وریځ یا نیبولا،

۳- اوریږه = هغه نیبولا چې ستوري پکې په زرغونېدو وي.

حق نه په ځنګل، فطرت په ترڅې

تشې ځاندې وي، زوري اوبه وي

عقل يې شل وي، هڅې يې ګټه

په غتو ګوري، ولې ړانده

نه پرې ودانه، که دوی ژوندي وي

او نه پرې ورانه که چرې نه وي

د ځوانمردانو قط نه وځي

نه يې خواږه وي، نه يې تراخه وي

په "تن په" زه يم" د واړه نيستمن شي

ځواک يې خساک يې خواږه او ښېنه وي

په زاړه شخوند کړي، نوي تري نه شي

نوي بريد و نه خو دمېړه وي

چې يې راغوند کړي واړه کړلي

ديو ګنجکي دا زرښت نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

د لوګینو د لړیون نه
اوړین ستوري راغونډیږي
ستور تېلیږي سر وهي لا
کائنات لا پراخیږي
که یو ستوری وړ ژیږي
نوی سل راوټوکیږي
د ژوندون زرغونېدو له
نوي ځمکې سادینیږي
چرته ژوند دی په بخښنچه
چرته کچ، چرته ځوانیږي
د زرها ستورو میرو کې
د ژوندون غبرګ غزیږي
یوه ستا د ځمکه نه ده
چې ساه دار پکې هستیږي
شنخړې ځمکې سبکته بورته
ستور تلیز وکې څرخیږي
هغه ځمکه ستا دوټر دی
چې دې لاس ور رسیږي

عقوبت به له دې ځمکې

درته کېږي په سر کېږي

د مېږونو ستورو بېړۍ دي

له سپوږمو ستورو تاوېږي

د یو نوي کور لټون کې

د آسمان لارې چاڼېږي

عقوبت دا ځمکنۍ به

ستورکۍ زو ته ورسېږي

د ښوندون څومره رازونه

به په ډاګه وغوړېږي

قیامتي[۱] پاینده هغه اوښتون شي
لا والا سره چې کله یې برغون شي

د عبرت مړې یې ګرځي په ملکونو
کوم فرعون چې له کلیم په ستور برېښون شي

د اولس وینې نهېښونکي هله ورک شي
دربړیا[۲] اولس چې کله په پاڅون شي

د او یارلي څلي هسې ولاړ نه دي
د مړدې کارونه ډېر په شواخون شي

چې په سین د اوراو وینو شي ورپورې
قافله یو قدم مخکې د ښه وندون شي

که هر څومره سنګرونه له ځان تاو کړي
عقوبت د ځمکې تبي هر قارون شي

چنیشني[۳] عقیدې چې غاړه باسي
د هغو خلقو تر لنه مړیستون[٤] شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پائیدونکی، ۲- دربړیا = خطر- نتلی- ځپلی،
۳- چنیشني = چې چنا سکې پکې شوی وي، ٤- مړیستون = هدیره .

د دوړان په زلزلو غرونه رارغړي
په ښکلي ډېروکي څه له ویاړېږي
تلناوونه يې رواسته، موږې خوړلي
چاڼ کېږدې کې به تر څو پوري اوسېږي
د پرښنبتر په چورلندو ځمکې له تللي
کچه ډېلې! په خپل خېژڅه غلطېږي
د سورسين چپې دمه وښکه له يادو
اى فرعونه! چې کليم ع پسې پاڅېږي
د ملخ ځانګ سړدي ملا شوله دوه غبرګې
ته لا څې د آتي بار ته لاندې کېږي
لااله بتکورکوته ښکر پوکل دی
که مؤمن يې تروروستې بت به جنګېږي

کلیمه یې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وګړي او سپین غر شي
کلیمه د سړي برش د شین زمري کړي
لړو[1] بر ورته د ګډو خپور لښکر شي
کلیمه لکه بوټه چې د اکسیر وي
مس ځوانان چې تري نه وځي نوسره زر شي
ننګیالي په جهان پیتي را تلي نه شي
دوی د هري سرخیري[2] وتلي سر شي
د هر کور انګري تود، تیاره شي ورکه
مېړني ځلمي په هر لوري چې ور شي
له تونګه[3] د عیسلي چې نمړي وخوري
که د ختو کوکوشتان وي په وزر شي
د مذهب د مدرسې نه هیله نشته
چې یو چېنی هم د بدر لیچور شي

---

۱- لړ= کوز
۲- سرخیري= د جنګ غالي سرپړه
۳- تونګ= شکور

دغلیم د بریدا وچیغي[1] حاجت نشته
لاس ترکریوو چې پخپله سنګروال شي
دکور، قام بدخوږمنځي پـه ځـان ناتاردي
پـه تیغه که باتوران وي تش پیخال[3] شي
تا ننګ دکمتی، د پرغل یې دلاس وځي
چې دچاراتلونکی توري نه اتـال[4] شي
ځلمي وار، پـه خپل اصل دي لالـونه
دروزه لو چې څوک نه وي کوتي لال شي
ځماتونه، مدرسې اوچینې د پرشول
خوله چاهغه بانګونه دبلال شي

چې دخاورو له کالبوته
اوده «زه یم» برسیرن شي
پـه اجل باندې جـل راشي
بنیادم ولاړشـي تـلن شي

۱- چغه= اپه، ۲- بدخوږمنځي = بې اتفاقي- اروپیچ، ۳- پیخال = د باتورغل- غرباز، ٤- اتال = پـه طمع- پـه اسره- معطل- ایسار.

دژوندون دغو ځنګونو لوی میدان دی

چاته پوله نه سپوږمۍ او نه آسمان دی

دفطرت غېږه پرانستې ده هر چاته

بود دهر چا هم په قدر دخپل توان دی

دا په تاده جوړه کاڼی که توره

خپور چاپېره دجنګړو واړه سامان دی

نیمګړتیا کړمې تولې اړ په مټ دي

مټ کول د بنیاد مو پوره په ځان دی

چې یې زده د سورکو وینو کښېدی دي

د هوهی دڅخه کمی پدې جهان دی

د باتور لمڅی دنیا ده بېله بېله

یو د ځوړې، بل دلوړې وږۍ[1] شان دی

چې سرمزی د نوښت[2] یې په لاس درکړ

دلوی برید په ننداره دی او س یزدان دی

---

۱- وږی شان - وږی انوونکی، ۲- نوښت - پیلات - ابتکار

چې د "زه یم" ټول رنګونه
یکسانه شي یکرنګ شي
لکه غونډۍ چې چړې شي
اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل مخونه یې چې یو مخ شي
"زه یم" هله خان دوران شي
کائنات کړي د پښو لاندې
سلاکاره د یزدان شي

○

چې یې "زه یم" په تنه کې
لکه بُت سلګون سرې وي
آدم زی شي سل لاریزی
له یو دره سل درې وي

○

د توریال زړې راخېژي په سوسر کې
د هوډې هڅې و باسي لارې غر کې
توربر سینو یې پخپله غماز کړشي
مېړه کله پټېدی شي په لښکر کې
"ستورونا"[1] کرښې د ځمکې کړله ماته
ښخوي بیرغ د ستوروخپل دوتر کې
مرجونا د نهنګانو له کاله نه
ملغلرې راپنه کړېدی ښادر کې
زهري خوېږه په یوماري ور پرېوځي
بله ماره یې نیولی وي نظر کې
مړدکي، دارو، ښتک او اوربشینه
دغه توکي د مېړونوي سنګر کې
هره ونه خپله مېوه نیسي
چا موندلی دی کروسکی په کیکر کې

---

۱- ستورونا = (په وزن د مرجونا) د ستورو ښکاري

زړدار هغه کورکښان دي
چې ژوندي بنيادمان خوري
سړی خور په پټه يې نه خوري
سبه برسېر يې په ميدان خوري
د بې پرسه کلو خلک
څه مُلا ، څه دوتريان خوري
يو وَرى يې په شا پروت وي
بل شنې لښتې بارګيران خوري
د باطلو راجواړه ده —
په برمته يې بې کسان خوري
روايات راپاڅېدلي
په حملو حملو قرآن خوري
د آدم په بدې ورځې
کليمان واره خپل ځان خوري

چې په منډه د هوډیالو ځي
لار یې خوږ کړې پې کړې وي

چې په څرخ باندې سورې شي
د هغو تورو لاشې وي

چې له اور ځنې ونه ځي
نو هغه پڅې اومې وي

له چپو چې انګوچه شي
پولادي هغه سینې وي

چې جنګ ړنګ یې ژوندانه وي
د برم ډکې یې شملې وي

چې دمت مجال یې نه وي
د هغو نا ندرې ګیلې وي

د باتورو هغې کوره
څه که یو موټی بیني وي

چې وهي د تنګسې توري
په هغو کله تنګسې وي

چې ځړیانې یې تاو نه شي
نو هغه لیندۍ پرکې وي

چې وهي د تنکسي تـــوري
په هغو کله تنکسي وي

سپوږمۍ، ستوري، ستورتلیږي
د میړونو بر آمـــــتې وي

د سر هنکو غور ځنګونه
د تاریخ زرزریـــنې وي

د اخلاص د شاهسوارانـــو
منزل لوی، لنډې توښې وي

چې منګل یې د زمرو وي
د هغو مارې ســکې(۱) وي

په راسمو باندې غـــرونه
د مالوچو پاغوندې وي

پرناورې ســنګر بایــلي
وینې سترګې پلیـــتې وي

دوږنګ تښتي کُن پرتانه
چې د بدر تهیســـې وي

د میړونو لوی لاســـونه
خپله توري او بـــلې وي

د ګیــدړو په نصیب کـــې
د زمـــرو پاتې درنـــګې وي

---

Reserved -۱-

چې یې پښې وي غزولې

د هغو به اَکې سپېرې وي

چې له ژوندە ماتې وخورې

زور یې ټول په موسلې وي

د مرشداکو مسئلو کې

هم د مړو مړینې کیسې وي

کوښې هم ځان سره کوږ کړي

چې یې خپلې پښې کږې وي

دیو روغ د سیالۍ نه وي

د ړندو که پرکنې وي

○

قام دلې دلې تورو تور بریښ کړي
دغه کمال د اولسواکۍ[1] دی

هر دلیت خپلې دلې ته سینه وایي
دغه دستور د دله بازۍ دی

پلویان راوړي، ناحق به حق کړي
"قامي[2] جرګه" کې سوال د لیږې دی

چې "جرګه غړي[3]"، ټول شته منان وي
واړه هیواد دی ونډه ونډه دی

کاواکه دروغي واکمنې دلې
څوک یې د مخې د کاواکۍ دی

د "سلاغونډه[4]" سیځلی لار ده
ولې هله چې د حق په تار ده

---

۱- اولسواکي = دیموکراسي.

۲- قامي جرګه = پارلیمان.

۳- جرګه غړي = ممبران.

۴- سلاغونډه = د شورۍ غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر یې ننګ دی
واړه شروند یې د کتاب په رنګ کې رنګ دی
چیلی ناوښکی په سمڅو، په لغمونو
بمبل تورۍ د باطل سره په جنګ دی
د جهان په "دنګ قامتو" سراوښکلی
سالاري یې په نري پوري قلنګ دی
هم د علم په دنیا یې بیرغ جګ دی
هم چاپېره یې د سینه سرېتوب ډنګ دی
هم یې کته، هم یې مخ ملازي ورکړه
خپل پردي یې په نمانځنه باندې زنګ دی
د زیارت خوړو ته ناسته بې کتابه!
ستا کوربلاري ولایت د پلي لنګ دی

منکران په دلیلونو منکران دي
او مُلا د بې دلیل مذهب امام دی
روښان خیاله نه کافر دی، نه منونکی
د تسپو سره ګرځوان یې له ناکام دی

هغه څرنګ به د بل کاسه کړي ده که
چې يې خم پخپله وچ او نسکور جام دی
پوهګړې توړې ترهېبېږي، څې په دړه
چې مُلا ورښکاره کړي کوم اسلام دی
لیشتکی له لیشتکی مفکوري زېږي
خان وګوره په جهان دې څو مړ سام دی
مذهبونه په کړي د نیمسانو
دښته منو د خوندي[1] کتو سمام[2] دی

خدای څروندی مال یې میرات دی
څه بې کچه ناروا دي
دي دېولو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي
دادلاد دوران سر دی
دوتریان چې په کړ بادي
د هغو لپچې تاوېږي
له پیرونه چې په غلا دي
له زما، له زمانې نه
پساتونه په دنیا دي

۱- خوندی = په امن- Safe، ۲- سمام = بند بنا

چې لېسين ترې لاس نيو کړي
شاه ميرهونه د الله دي
امانت د اوليا دي
چې له تا څخه سوا دي

چې د حق او د باطل د غره راشي
د بې لارې پلار نيکه په لاره مه شي
چې توره[1] يې د بتانو لېر ول وي
خدای دې وګوماري ته هغه ميړه شي
چې يې غل غدو له ويرې بلوسه کړي
په مورچلو د قام وينس هغه ليمه شي
چې مرشد واکې ولسونه پرې رغيږي
که يې سل ځله توکې، هغه تارخه شي
څه زرغی زرغی کوې چاقهرمان ته
که ملا وتړې، هغه توريال به ته شې
غرونه غرونه واورې هله به شي ويلې
چې د نمرېشان پرې سور په ايشېدو شي
چې يوه پلاوکنې وماڼځې اولس ټول
ته به هم د اولسياسو په ولړه[2] شې

---

۱- توره = دستور- قانون ، ۲- په ولړه = په ډوډۍ- په بسه ورځ

چې راشپېل دې په راشه د آسمان ښخ کړ

بیا به هله د سرې په نوم باله شي

چې د کړاو تندې خولې خولې شول
د قام جوشي بیا پلوشینې شولې
د سربښندنې کرامت وکوره
د ازغو غېږې ګلورېنې شولې
د پلار شهیږه دې کائنات دې واره
کاش چې دې توري بیا پلرینې شولې
با تورزي خپله به راوزین وي
که د پروکې دې مابښینې[1] شولې
غږ او راغه یې شېخ ملي ونیول
چې د زمري ستوګې تندرینې شولې
د تورانۍ لېونۍ کږیکې سره
ځانګې غړانګې سندرینې شولې
چې بیا په رحل دې کتاب وخاته
ذرې بې ارزه دې نمرینې شولې

---

۱- مابڼ = یوغړ

کليمي لره شړوندي زړونه پکار دي
او ورله لوټې په پنډه کله پيدا کيږي
په خوبولن کې له بڅرکو تو غېږ يدونکو
تر آسمان شړه کوونکي او رتاند پيزي
چې ايتنو د تنې ورچ ، ځيلي ترنوستي شي
په کېنوونوو شپېوونه را تو کيږي
د مذهب په کڼ خوځولختو لهړو
د سرسوري د قاموونو نه جوړيږيا
هغه ځلمي بويه بيرغ د محمد له
دا په خوار وليشتكو نه پورته کيږي

مړه يو کي مذهبونه
لار ځانه شي رهنولي
د بوزړم انقلابونه
آذر نه شي را وستلي

د شړوندون او بزدي کيسو له کائنات به چانهول وي
له موجود ځني پېشما به تر لوکيزي پورې تلل وي

○

چې په هغو ښارونو کې

چې پرې کسرې وي وختونو

ګویا ځان لره توزین[1] کړي

د کسرونو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې

نه نیم سول شته، نه سوله شته

د خلیل[ع] مټ دي تود اوسه

د آذر چې بت کړه شته

○

د هند و عقیدو ښار کې

انقلاب را برسېرن شي

د زړو خدایانو مخ چې

ولسات ته ګرغېړن شي

○

بتان شي د ځمکې تبې

بتګرونه را نسکور شي

چې د زړونو په وړشو کې

حق زرغونه شي، سمسور شي

○

---

(۱) توزین = بندوبس

○

خلیلان چې له تولـــنې
د خدایانو ورڅکول کـــړي
نولومړي د دې خدایانو
خدایي وړپوچ کول کـــړي

○

کلیمان د فـــرعـونـانو
پاچایي هله غــوزار کـړي
چې بې لاره ولسات تول
د دلیل په زور په لار کړي

○

د کلیم د درنې پــرګـــې[1]
خلقې وېیا وار ه زبــرګې
هم یې کتــه ، هم بخښـنه
هم یې مټ وي یا هم یې ستـرګې

○

چې د وخت اړې کـــړې کې
ځای تینګ لکه د غــر و
د خپل پوخ «زه یم» په مرسته
د همه پرګنو ســـرو

○

۱- پرګې = پرګنې .

اوسې تش د عقل اند پښنو سره
ځې په تياره لار او ورکو سره

عقل که سقراط دی، بريالی نه شو
ګرېوی په لاس د پرشو کشالو سره

ستوځو د ژوندون له برمه پرې يستل
دل يې چې سپوږمۍ ستورې کړل پښو سره

لا تراوسه لرې له خپل ډکه يې
لارې کله مارکس، کله روسو سره

کله په يوې کله په بله ځي
دروې دې نيلې د برېو کوسره

وينې اوسنکې و چې شي لنبې کښينې
عقل چې بلد شي الله هو سره

راشه د کعبې درشله ونيسه
مل شه ای ځيرکه کليم زو سره

آدم زی له مریٔیتوب ځنې آزاد کا
د "مَا کانَ لِبَشَر"[1] سبق ور یاد کا
چې د بل د خولو ورزم تې راخیژي
د هغو ماڼو کړ ګچو خوږ بنیاد کا
د آذر د بُت خانې لړولو ورستو
شړی ور ! ورځه کورد خدای آباد کا
چې صبا په غرو قیدوشي کلیمه وایي
د دوران فرعونانو ته د خدای راياد کا
په لوخړو کلی پټ، په وینو ږوب دی
د کوچنی فکر سالار دې څه فساد کا
د مری په ځای ځښتن چې زورور نیسي
د عمر انصاف به غل عقوبت ساد کا

لړکریوانه د فطرت یې چې لاس وبنکه
هغه قام به زرپه غاړه کِند کچلول کا
لا اِلّا چې یې توره شي د ټهولـني
هغې ږب به یرغلونه د منګول کا

---

[1] (ما کانَ لبشرٍان یؤتیه الله الکتاب ... ثم یقولو للناسِ کونوا عباداً لی ...)

حق باطل توړې تور بریښ دي تل راغلي
حق به نه وي چې باطل سره نیم سول کا

د ډېر قامونو نه دي غونډې اوبو وړې
په سین غاړه له بارګیر خوشې پرزول کا

رسیدلي په خپل "زه یم" شاه مېړونه
باچاهي زرغون د خاورو له کندول کا

داکاني یوازې تېرو خلقو نه کړي
خلق اوس هم په ژوندون لونه ښخول کا

د دې کلي خلق ټول سرېخواره دي
په پړ دو فصلونو بلوسي خپل ته شپول کا

چې ځانکړي سود پسې یې شي وکړي
په ټولنه کې سور او ور په غرغنده وشي

د شته منو شته مني چې خمار وکړي
انقلاب د نیسمنا په راتلو شي

چې بې وس دي د وسدارو د سیالي شي
د زرداره تپې دا کله پیرنه وشي

دوتریان د لولنګو غمونه نه خوري
له لیوه کله زړه سوی د شپنکو شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړ داري د پردو وينو لوى اغيرړى

اغيرلي عقوبت په چاودېدو شـــي

الا مي د او بنستون د قلِ العَفـو ؟

دو ترونه چي ورو-ورو په كمېدو شي

هغه كار چي كليمانو ته اتـال دى

هغه كله له ماركس اوله روسو شي

له د ستور د باتورانو چي بي ډك دي

خود په جاله كي پيدا يي مسنګيرك دي

چي يي ژروند د خدائ لاري په لاروي

هغى سيال دى، هم برخېن هم په خپلوك دي

د ميړونو لار د اكي آسماني لاره

مزغړو ته لاري تل د دوپړك دي

له ساده ايمانه څاري يي فلسفي شه

څښتنان چي دلروكي د بنك دي

شپنكي كوره غرضونو شه نخان كړل

په برمته ارم په غوښود كنډك دي

د ننګيال واړه كاروانه هلي ځلي

د نيمنو، بي اسره و په كومك دي

تور(۱) خنکلي پرې برې راولي نه شي
چې د بدر، د حنين تورې ترملا دي
الاجي غونډې دانه راوړې يوځای له
شاه ځلمي له شاه ځلموکه په شا دي
ننګيالي د سر زړه وکې د تور سرو
ننګيالي جګې شملې د اولیا دي
فرعونان يې چې په مکرکوټ ښکار کړي
نرکول يې بيا کاروونه د موسیٰ دي
يو کتاب و چې امت پرې ټول راټول وو
يو کتاب دی، او لړوه(۲) د وه اويا دي
هر دليت(۳) د خپلي ډلي د وزې(۴) وايي
او آمې خلق حيران، چې ترېښتيا دي!

---

۱- تورخنکلی = چې توره خنکل لري د باطل ځواکونه.
۲- لړوه = ګوندونه - ډلې.
۳- دليت = د ډلې غړی.
۴- دوزی = ثنا - صفت.

○

د ړاړې[1] تنګسې کړنې کې
ژوندانه کله ځايېږي
ژوند غزېږي، اوچتېږي
ړاړه خوري او سمسورېږي
د زاړې وجود د خير دی
چې پرې "زه يم" شيرازېږي
د وجود دنيا تاغير خوري
"زه يم" کله تاغيرېږي
د خښتن په ليکه "زه يم"
خپل قامت وته رسېږي
د زاړې ځاندره شي ړنګه
"زه يم" هر کله پائېږي

○

ډله د خدای ماتې خوړلې نه شي
څوک يې ترلې پرانستلې نه شي
توره به ستا د موزيکې توره وي
د ميړه توره پخبدلې نه شي

---

۱- ړاړه = (لکه واوړاړه) ماده - چې زيږول کوي - *Matter*

دګيد ړبرخې دی هرچا وخوړې
دزمري برخې څوک خوړلی نه شي
که بُت خانه د پلار نیکه ده نو هم
خلیلان غلي کېناستلی نه شي
چې یې بیرغ د الاهو ړپېږي
څوک په سنګرېي ورختلی نه شي
زمانه هرڅومره که ځکې ولاړه
له کلیمانو ځکې تللی نه شي
دغیرقامونو دکټ پښې ته ناسته
تا عزت داره څوک ګڼلی نه شي

دخیګونو خاوندان چې ارو ییج شي
رسوي به څوک جاله وایه ځکو درته
ځاني سود چې مدعا شي دوکړو
بیا څوک اروي بلرونه پردې ورته
په زنارکې تسپې وپیلې خلقو
یو ځمیزې مسلمان چې لاړ شي چرته!
د خلیل نوم د ثواب دپاره اخلي
زوندانه دي ټول ناري وهی آذر ته

۱۔ خیګ ، شناز

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای دې توان د مهتونه یات د شاځلمو کړي
چې په ننه ورکېوتي دي لوی غـر ته
د کلیم د پېرې خلق هم هغه دی
نیمګړتیاوې چې د خدای ړسوي سر ته

بیا پېنوار د محمد(ص) په وینو جب دی
د طائف خلقو دې تیږې بیا ورولې
دا جنډې د کلیمې چې چرته ړپې
دا د بدر له میدان راغلې ستسولې
د کعبې په توره ګټه لوظ کوونکو
د سرونو په باز وغاړې خلاصولې
صدقه د وینو سرو د پښتیالو ده
چې ننقام د خپلواکۍ خبرې کولې
د مسو رفصل ړنه پیمانه کېږي
د تش تورکي پیمانې کله چاکولې
سمندرې خیرې غوځ کا خپلې غبرګې
که او به دا الکه ورځي ختولې(۱)
ساقي خُم ته د شاکاسه سره ناست دی
خو که سترګې لېونو بیا وغړولې

۱- ختولې، چې د ختو لهوړکي وي.

○

پښه مه شه د توریال د مړدي تورې
د منکرو لا ولاړ دي سنګرونه

د ښروندي مفکورې[1] خپله د ومره ځواک[2] وي
بې لښکرو کړي رالاندي هېوادونه

انقلاب د کلیمې راغلی نه دی
چې راځي بوربوړکې انقلابونه

یو بیرغ د محمد[ص] به تل رپاند وي
نور دښیلمي[3] دي باد وړي بیرغونه

هم یو رنګ د کلیمانو پوخ تلل دی
زاړېږي نوراومه او پړه رنګونه

سرچینه یې چې شي وچه، ډنډاوې شي
په غوړما روان اکاو[4] اکاو سیندونه

د تاریخ په اوږدې پلنې هدیره کې
بې له شناختې[5] دي پراته ډېر اولسونه

---

۱- مفکوره = نظریه- فلسفه، ۲- ځواک = زور- قدرت،
۳- دښیلمي = ټول- سراسر، ٤- اکاو = بردم- ډک،
۵- شناختې = خازې

د هغو قامونو بڼه[1] د بدنې شي
چې لېندۍ يې د ځلمو شهوتي پرکې شي
چې يې کډې مفکورې او هلې نه وي
د هغو د خپلو لکې کوزې جنډې شي
راسمنې د مشرانو چې يې نه وي
بې درنې پګړې پلرينې يې ښنې ښنې[2] شي
لا شه تورې بنيادم تشې کاڼې شي
چې په برخې يې ژونده عقيدې شي
د شاد و غونډې پېښې کړې د قامونو
چې يې جس د نو ښتون بسمې بسمې شي
څه په څه دې له خاورينې ډېوې ګرځه
له ډېوې نه عقوبت بلې ډېوې شي

کوچ شومله[3] سره بېل بېل کړي
زمانه د شروند شاربل کړي
د مېړه لاره يـــــوه وي
چې څه کاندي هغه تل کړي

---

۱- بڼه = رنګ، ۲- ښنې ښنې = ريبې ريبې، ۳- شوملې = ترېي- شلومبې .

چې په ګلزار د شهزاده[1] شي

هغه دوه ژبې ساتل کړي

په فرعون کاندي نسکوره

چې دستور د کليم خپل کړي

دره يونيم په نېزه وړي

که آسونه د پر تېښتل کړي

د ښې ورځې په تکل کښې

خلق توري هم ګالل کړي

د ګالا کوترو ته ګوره

چې په نمر پسې غپل کړي

○

د باتورانو نوغې[2] دې خور کړ

درته دې پاتې تش پېخالونه

دلبه[3] مرداره څنډوې لاس کښې

تش تېپوسان پرې کوي سودونه[4]

د چتو ښکارې دوګزې نه کړې

هوښيارې ګرځي نيسي بازونه

---

١- شهزاد د = [illegible]کياولې د کتاب نوم ، ٢- نوغې = اصل - نوغې خوړول - بېخ ورکول ، ٣- دلبه = غوښنه - طمع ، ٤- سود = مينه

چې پرې اړې وي د باتورانو
نه ښکاري هغه دنګ ننسترونه
له خدای اګاه شول او نه له ځانه
طالبان وايي کوم کتابونه؟
غرابين زنګ شه، او توري پېښې
پاتې ملا دي، يايې بانګونه

وګړي کوره په غوږونو پرزو
نمرې له يوبل راشوکول کړي
کارونه واره د لاس سبري دي
څوک شي سکونډلي او څوک سکونډلي کړي
دښته منانو د بينګان راپنه دي
دښمنانو ونډې ويشل کړي
يو پنجور هم خپل نوغې نه خوري
آدم لګيا دی آدم خوړل کړي
څوک په خمڅو(1) پسې راندې شول
څوک په اوږ(2) مکوکې شونډ(3) وهل کړي

---

۱- خمڅې = دنرو جوارو د وړې - خوار خواړه، ۲- اوږمک = غوړه زيړه خوراکه - شاهي خواړه، ۳- شونډ وهل = لکه څاروي چې په ګياه کې تشه خوله ووهي، ولې خوري يې نه.

د قبر ځای د لوحی نښته

ځمکه وال ځمکې راانغاړل کړي

دوره تو غوښو د دوزې خیژی
خالق آخر به منځ ته کېدل کړي

○

د ځمکې مخ چې په بلهوا رڼ
دا انقلاب دی، هم دا پکار دی
چې سپوږاو پلی سره یوسیال کړي
هغه رښتینی کاروان سالار دی
وارته دې خړله زړغی زړغی کړي
نن را اوچت شه هم نن دې وار دی
میړه د عقل، غوښی د ښکار خوري
د عقله پلی پخپله ښکار دی
هر سړی ځانته ترخرہ توبزي
یو ځو ماړه دی، نور ولس خوار دی
کلیمه وایي په شرنګ یې نه دی
یو سر او بل سر عالم بې لاردی
د ننه په تن کې زړې زړغونه کا
بهر بیا کوره څه رنګ بهار دی

ژوندانه کله بیلتون کله کډونه دی
کله مل شه د ټولنې کله بېل

که دې زور د زمانې بدلولو نه وي
د دوران کوڅې خوره او شه بدل

درناوي او سپکاوي په جسوار دی
ستا په لاس ده که ګڼې اوسې که نسل

نشته توره کوږې لار د کتنې نه ده
توریالیه! چې څوک شولی حق مسل

ساد، هغه چې په خولو یې د تندې خوري
تیار خوړ کړی د همه ولسیا غسل

دیګرنګو ګوګل پاک وي تل له ویرې
درغلان او دوړنګان وي په زلزل

ته ویله وې چې کوچې ماهیان بار کړې
اوس وهي به یې دایلبند شمال او ربل

حقتولنې څنې پرته هر نظام کې
بنیادم له خپله ځایه راغورزېږي

د ککوړي د سرې ټوکرې د پاره

آدم زوی بل آدم وته ټیټیږي
یوشتنه من دی چې ټولنه کې ټولواک دی
نیمنان خوپه جغ شوی تل اوسیږي
د ناچارو کته باندې کتوی باندې
د چارمنو کتوی به بې کتی پخیږي
دبې وسو د خولو په ترمو څاڅکو
دوسدارو ماڼی رنګ، خمې ډکیږي
د رناوي چې په موړې[1] یا په دوترو وي
لولنګو به په کنځیله خود ارزیږي

بې اسرې آسمان ته غرېدې غرېدې اړې
په ظالم چې به لا کله نسکوریږي
په زوخړه به یې غرونه شي ټول ویلی
په لړمون دځمکې داسې اورختکیږي

بې ټولنې ژوندون څه دی؟ شنه پسرلی دی
بې ټولنې بنیادم څه دی؟ نه شی دی
ټولنیزه ژوند سمسور د سرې جس کا
د ټولنې مدعا واره سرې دی

---

۱- موړې = پانګه،

په تولنه رېزکې لوی قهرمان شي

بې تولنې قهرمان هم لیشتکی دی

چې تولنه دې آدام په کلیمه وي

هله وایه چې خپلواک د آدم زی دی.

د تولنې سره مل، دځان ښارن شه

چې ستا «زه یم» د ښوندون ځانګړی شی دی

چې تولنه یې باره[1] دارتیا[2] ناخلي

هر بنجمې خپل چاروکی هندوکی دی

کلیمه واړه نړۍ یوه کورمه کړي

دیوې کورنې خوتل یوانغری دی

دازغوله ویخه سترګې را توکېږي

د پسرلو لاره دغنو په چا په وي

د نمرود د خرخشو به ښه ویرېږي

سرې لنبې د خلیلانو خوراکه وي

سامري د زړونو بت غلونه را نیسي

د مزډورپیت پړک هم په تپڅه وي

شرق ناتارېې دوختونو نیمه خوا کړي

انقلاب چې یې په نیمه کلیمه وي

---

۱- باره = پېښتی، ۲- ارتیا = ضرورت- نیګرتیا- کرمه.

ارکجه چې نظامونه د نړۍ دي
ولسونه خوځوي خو دي ارکجه وي

○

د شنډې تخم ګروړنکی    عقوبت وي برخه شنډه
خېږي يې څه کړې چې نه مومي    څوک يې ويزي له درست ونډه

○

چې د مال او شړوندانه دواړه زکات شي
سرلوړي به دې هله په ولسات شي
چې نيستي د بسمنانو نه غوښېږي
او د دې پوړي په داسې خير خيرات شي
ولسونه په مېړونو شړوندي او سي
چې مېړونه په نيش لګي، خو د ميرات شي
شريعت چې په اندول[1] د خپل وخت نه وي
عقيدې واړه ذکتي لات منات شي
د شړوندون پانې په خپلې سکې[2] کېږي
هغه ورک دی چې پيرې يې په ميرات[3] شي
چې يې مندره نه له دين نه له سادينه
د شړوندون خوابزه په داسې ولس قسات شي

---

۱- اندول = توله، ۲- سکه = سرمايه - راس المال، ۳- ميرات = Grace - لږه وربخښنه.

د هغې او نبي ملامـا ته عقوبت شي
چې يې بار له خپله توانه ځني زيات شي

○

هر غورځنګ[1] ته دورنګان ورشنوځي
ځان دې پوهه په دې تکي هرسالار کړي
تابيا کرانه د بهر دغليم نه ده
کورغليمي په اتبار کوونه اركړي
د دورنګو[2] وي نظر په خپلو ګټـو
کله غاره کې تسپې کله زنـار کړي
چې د ننګ خبره راشي کورغاري شي
تش ميدان کې به د وزو تود بازار کړي
تا ته لاپې دياري وهي سوګند خوري
شا په شا دې له دښمن سره روزګار کړي
دوه مخيزه شروند په نه شروندو ليكه[3] دي
يو مخيزه شاځلي يومخيز كار كړي

---

۱- غورځنګ ـ تحريک ـ خوځند

۲- دورنګ ـ دوپرګ ـ دوه ژبي ـ منافق

۳- ليكه ـ حساب

هم خپل جسد سړي خوب خاوري ايرې کړي
د دوړنګ عمر په ځان باندې ستم دی

ښستن ټول د قدر ور دې پيدا کړي
يو سړی د بل سړي نه په څه کم دی

تر(۱) ليمار د فرعونانو دود دستور وي
که ولس يې تل زغمي، نو ولس ګرم دی

ستور تليږو ته چې لاس شي رسولی
ولې سود يې په ګلونو د شرشم دی

باتوران چې د کونترو ځای له راشي
اې ويړلو! نړۍ هر چا ودي د غم دی

دې ټولنو او دودونو ليښتکې کړ
کمتی لوی له کائناته بنيادم دی

په لويديځ کې لږ له عقله رڼايي ده
په ختيځ کې د هر لوري نه تورتم دی

نمر(۲) پيتار چې د فرعون وي نړامن نه دي
نړامن هغه، چې فرعون يې ورکول کړي

---

۱- تر ليمار: وهل تړل ۲- نمر پيتار: د بل د وړي ته ناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بې جسه وي جابروته نېتېږي
چې جسمنه وي جابر رابغـول کړي

چې د بل په سترګو وینی تول رانده دي
روغ هغه چې یې پخپله ځیرول کړي

نه سرې شو چې سـري یې خدایان کړل
چې سړی وي نو بتان نسکورول کړي

چې بلزونه کړي تنزړی، بازوان نه دی
بازوان هغه چې تنزري بازول کړي

ننګیالی دښوند نیمګړې هم پوره کړي
او ولس په خدائی رنګ کې رنګول کـړي

په ذروکې یې چې ستوري زرغون نکړل
هغې خوشې لور په لوته تېرول کړي

○

ډکې ډکې جولې خلق ځي له درمـن
برکت دې شه ننګیاله په رشــې

ښا پیرکۍ په توروځمځوسـرښـاسي
سورپیا شه ختیځ رانولي پلوشې

د بازونو باتورانو پدې قات کـې
تپوسانوځنې غـوره دی باشــې

د دروغو، دناحقو منزل لنډ دی
ترڅو پټښې راتینګوي به یې مشمشې[1]
لا لیدلی یې بورسترکی کلیم نه دی
څکه کړځې فرعونان لا په نشې
دحق دوګه له خپل ځای رقولی نشي
دباطل داشدتونه خرخشې[2]
اروپیچ چې له نقشې دکائنات وي
په بل مخ شوی دنړۍ هغه نقشې

چې دنمر ستړکه وبریښې
غرونه واوري کاندی ویلې
حق بربال پرون هم نن دی
که یې نښته څوک په سیلي[3]
داوبو دمخ کیل نه دی
کلیمه دکاڼې کیلي[4]
دنښتر دسیالۍ نه شوې
که په خبرشوې ډیرې ډیلي[5]

---

۱ـ مشمشه = پروپاګنده = ډنډوره. ۲ـ خرخشې = جنګونه، ۳ـ سیلی = ملاتړ
۴ـ کیلي = کرښې، ۵ـ ډیله = یو واښنه.

بدخوک بدو نه نه وایي
خلق شوې داسې ایلې
چې زنځور باوېړي[1] وکړي
پوچې شي د دارو هیلې
له پولاد اصیلي زېږي
خرې نه زېږي اصیلې
چې نښتر له برمه دروي
نه ټینګېږي په یونیلي

---

لکه کس کړي په ځان غاړې
هسې قام په ځان کاني[2] کړي
د هرچا تبر له تن دی
خپلي سپینې خپله پرې کړي
هرڅوک قبر ځان له کني
هرڅوک خپلې جنازې کړي
غلیان له کوره زېږي
پلمه بازخه له پلمې کړي
هرڅوک ځان ته تبې[3] سرې کړي
بیا یې ځان باندې سرې کړي

---

۱- باویړي = د نارو غې بیا تاندېدل، ۲- کاني = شندې - غاړې، ۳- تبې = د کټې تبخی

خپل عمل بـري ښښـن دی

خپل عمل په غاړه پـړي کړي

څښتن ظلم تېـري نه کړي

هرڅوک خپله ډیوې مړې کړي

د فـرعون دکور له درنـده[1]

کلـیان جګي نـېزې کړي

په مسـوړ[2] و باتورنه نکوي نوکې

د تنزیه وتودي وینې یې مسوروي

د ننګیال کړلي خېژي ، سمسورېږي

میرې وان او سپنځري که سوسر[3] وي

د دوران تا بیاد هغه چا دوس ده

بـغـ نبتنود ژوندون چې یې نظر وي

د تاریخ تول نر زوي پرکونه سني

چې مدام د ننګیالو موټی لښکر وي

منکران به څوحق د لارې تښتي

د هریو لار به آخر پېدې خیبر وي

---

۱- درنده = غولی - جوس .

۲- مسور = د منوکوټو رنګ - نیل پالش ، ۳- سرسر = د کیاکبدونکی اور .

کلیمه لوی چیناګر دی    تل تر تله په غور ځنګ
سوسرونه پرې سپرلین دي    سیمه سیمه پرې ګلرنګ

دکشر مشر فرق خو خود وی
څښتن لومړی دی ورپسې ته یې
دیونه کچ یې په نورو بـــــره
هغه قجیره، څواکمن مبره یې
چې دې خویونه د هغه خپل کړل
هله په ولې یې، هله به شته یې
څکه دې غوره پخپل سر اخلي
دهغه مټ یې، دهغه کړه یې
دهغه مل یې، په زړه بسیل یې
له سین زرغونه بربوکېنې نه یې
په سپکو کانو چې ځان دې تولې
داله خپل ځایه لاخبر نه یې

---

۱- غوره، تورتهمت ( ... فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم ... )

په درست عمر کې بوڼه[1] دی نه ده کړې
دادی بازدی وهنده او دامیشکاري

یو قدم له خپله ځایه مخکې نه شوې
دکانې غوځکي یې ټول عمر په لاري یې

نه دې برید، نه دې ولجه، نه دې مېنود څه
هسې لوټ[2] یې او د ځمکې په مخ بار یې

څه که ځان په سرو مهرانو باندې نیسې
په نظر د صرافانو کټ بنګار یې

حج، مونځونه، تلاوت کړې روژې نیسې
ولې اوس هم زناري یې، بُت ګنار یې

لږه پښه ونیسه فکر له ځان وکړه
چې داولې له همه قامونو خوار یې

چې هم دغه مذهبونه دې امساوي
لکه ړوند له کړنګونو به غوزار یې

دغلیمانو په مسودونـــن
چې زنارونه ؤ، هغه تسپې دي

---

۱- بوڼه = لومړې ښکارکول، ۲- لوټ = بې هډوکو ځانده.

کتاب کښېلی، باطله کړې
دکتاب مینځ نن هغه کیسې دي
انځور هم هغه خدائی انځور دی
ولې پرې شوې پوچ کښېدې دي
چې خلیلانو راړنګـــولې
دامتیانو هغه کعبې دي
داچې یې زوړ دکلیمو خېژي
چې ویخ یې کوږې بې کلیمې دي
دمذهب شروتې لیندې په لاس دي
ځکه یې ولیشتې تل مُونډې دي
چې حق ننګي وه ځلمی وغشـــی
چې بې ننګي شوه ځلمي ډُرمې دي

○

دباتورو دورتــړل ده پــر
لړزه ناسته یې په ځـــاله
دشړوند بړد[1] کي، راځـي پېتي[2]
دنصیب لیک ته اتـــاله
چې نېستي په هستي مـاري[3] یا
څه به خلاص شي له زوالــه

١- برد = سیالي، ٢- پېتي = ورورستي، ٣- مارل = حسابول.

چې يې څکه کلیمه ده
ولې نه دي ټول را ټاله؟

بازداري دي خپله ستا يې
په دېوال له تش پېخاله!!

په نږي باران پسخه شي
او م غړن لوښي کلاله !

د بل کټې ته په طمع !
هيڅوک نه کټې يې تاله

خواره بر سيره کا، تراخه به ورک شي
چاپېر ښولنه که هر څو ترخه ده

تيرې به وي تر هغې څلې څلې
چې دې ديوټ باندې ديوه څومره ده

حُجره، جُمات کې يې ريښتيا وويل
له يو مغز نه ولسيا خپه ده

د رابيا کې بورجل ته ځان رسوه
که لار د سرو غنو چا په چا په ده

د صبا لاره څوک د ب کولی نه شي
مېمه داوخت تکه توره شپه ده

په سپوږمۍ کوږشه مېږنۍ وويل
دا د برتنګ لارې لومړۍ کړپه ده

ښه عمل «زه يم» ترغون کړي
بد عمل د «زه يم» زنګ شي

چې په «زه يم» شهسړی[1] شي
دوه جهانه يې قلنګ شي

شي تالا ترغه په «زه يم»
چې دوه مخي شي دوه رنګ شي

بيا د «زه يم» ژوندانه دى
چې کالبوت د خاوړو رنګ شي

چې سمسور يې «زه يم» نه کړ
د وجود سره چنګ ونګ شي

مرګ يې هيڅ کولى نه شي
چې د خداى په رنګ کې رنګ شي

په خپل «زه يم» باندې ننګ دى
په ښښتن که د چا ننګ شي

---

(۱) شهسړی = سترسړی - لوی سړی.

کښېږده پرې ستا عمل دی
که دې "زړه یم" سرانځور دی
شوسره هسکه دلې هوړې
چې په "زړه یم" کې سمسور دی
چې ځوانکه[1] یې شي تور کې
تش لمنی، هم مختور دی
ای د خېټې غم خوړکو!
خېټه هم، خوشروند څه نور دی
دې آدم، آدم په زړه یم
بې له زړه یم د آخور دی
چې د تش نس او د نوس شي
سرې ذات پورې پېغور دی

د مېړونو تېرو تورو چورنګ یو ړل
د اَتي په امبالي چې غورمبېدل
د هغو ښارو بنه الـــوزي
سر چپه چې جُوړه بازته نیغېدل

---

۱- ځوانکه: دزړې یا تخم هغه شوني تیا چې زرغونه ترې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو په طبیبلو خوږونه غښتي
چې له حق څخه ناحق ته اوړیدل
چې خوړلي سوګندونه یې د وفا وو
دار یې یښي په اوږو وګرځیدل
د رندو کلي کې کراني خرمیږي وي
او لالونه په سوپیاکو خرڅیدل
د کلیم په برخه دا رنګې مړښواک و
چې له واکه بې واکي ته پسخیدل

د میړونو پولادي متې سنګر وي
تور بریښونه یې شملې د قام د سروي
په پوړونو د جمات خوبونه نه کړي
یرغلونه د باطل چې یې په سر وي
د میړونو نغري کوندري شریک وي
شیخ ملي دو تر یې واړه یو دو تر وي
مخور د نړهاني هغه تومن دی
چې پرانستي یې په درستي نړۍ ور روي
د نړم چینه به یې هم چړې تاند نه کړي
چې پخپله روستي ځبلي د نښترو وي

په نيزوکې يې دوه ځنګو ستوري ولاړ شي
تنګيالي د نمر خاته ختلي نمر وي

که د ينګان لري هر څو ستري وزري
لوې ماري د باتورو په څيګر وي

چې کاسير وي په پرهونو کې بربنډ وي
حيا خپله حياناکو له څادر وي

پردې بد شي د کتوی خپلې نکولی(۱)
بدي کړونې خپلو بدو له اشر وي

د ميړونو د څنګوټ هم دغه دود دی
يا د هيړ ټول ماړه يا ټول نهر وي

○

چې يوه يې مفکوره وي
اوله دې نه په ادب وي

په سره کې کنجي(۲) لاس وي
په توده کې يک(۳) جلب وي

○

نه نوره د کائنات ده    نه د شرونډ دستوراولاړه
چې يوځو دې په وله(٤) وي    او د نورو برخه خواره

---

۱- نکولی = پخکړي - لمده بل، ۲- کنجي لاس = خپلو کې کلک لاسونه ورکړي.
۳- يک جلب = چې آسونه يې څنګ ترڅنګ روان وي، ٤- په وله = ماړه - هوسا.

دميړونو لار[۱] لومړی توری وهل دي
چې نړۍ په ولکه واخلي نو ویش کړشي

دمیړه نیکه دوتړ چې شته کول غواړي
هغې مټې بدې راکاږي او بنکر شي

دقام مشر هم دقام په جامه بوږیه[۲]
چې ولس یې دشړه وي، شړیور شي

زمانه که ببرشوی اباسین شي
شاه ځلمي ورته پنبې بنجې کړې تورغر شي

چې په ننګ دلا اله وي غزا هغه
نو رخو هسې خلقې خوشې ککرشي

دسینا په دونهه پنډ ټول سر ببری
دیوي دونمې ترمخه یوتې برشي

برغو[۳] پوک وهه، دننګ ورکا نغاړي له
داخواره واره بنجخې[٤] که لښکر شي

---

۱- لار= قانون ،۲- بوږیه= پکاردی،۳ برغو= سبنکر- تورم ،
٤ - بنجخې= درې خپې ( په اصل کې دوني بوټي سرغوټه وائي .

په توربرېښ چې په میدان کې ځنګیالی وي
سرښیرې کې یې وتلي ننګیالي وي

په خپل کور کلي کې د پرخلق نامستو وي
حقملاڼ په ولسات کې نومیالي وي

چې کلیم ورته بیرغ د یرغل ورکړي
که په هره غاړه مخ کړي، بریالي وي

کلیمه پښتوله، په لاس کې بمبل توره
د میړونو خو هم دغه دوه کالي وي

که لوی شی دی هغه منډه دابدالي دی
په داخه که دچا توره ابدالي وي

په سومنات دغوا بین په خوله بانګ وایي
چې په ختهٔ کې یې ګډه بلالي وي

بازداره پورې پیغور شولې بازداره
باتورزي دې قوشخانه کې تپوسان شول

په توله کې رڼا پوښتې زانغله
که وګړي توله د سیلمې نه حاجیان شول

فرعوني او هاماني په زلزل کوره

پدې شخړو کې یو څوک کلیمان شول

چې دیوې یې ستا پلرینې واخستلې

د میړي له ځایه پورته شو آتیان شول

د همت سپاره دي وبوګنیدل هسې

خر سپاره درنه له پامه وزبکان شول

زهریالی له خپلي ماري پښانه شو

په داځه شي په ډنګ ډنګ که ناکسان شول

ای تورانکی او ردزړه ونولـــه

ستا یوه کوکه ورکېدلی نه شي

نتره شلونه دا زغـــو که وي تـــل

د ستر کولاره څوک نیولی نه شي

د ګیدړانو په اور رو کې چـــرې

د زمري غوړمب خطا کېدلی نه شي

چې شي لاس بری د فطرت په لاړو

په هغو چرګ را پربوتلی نه شي

د نن په ګټه چې یې سود کړېدی

د صبایي میدان ګټلی نه شي

چې له دې ځمکې پوره ته شوی نه دی

خبر د بل ژوي ساوړلی نه شي

په شاه میړه یې انګازه شویده

که یې بنجخی نسن لیدلی نه شي

چې د لیچو نه ور پیدا کړې توره دار شي

چې چنګېز یې وتړي نو هغه لار شي

چې وسلو متوسره کلیمه نه وي

که د غر پښان تومن وي تارپتار شي

له دستور دکا ټنا ته ځنک وځېتی

د کندو انبار شته من قامونه خوار شي

بې وسي په دنیا لویه کوتاهي ده

چې د ښکار کولو نه وي، خپله ښکار شي

آدمزاد لوی یې میړانې شي کولی

چې د خېټې د غمونو نه وزګار شي

خواري بویه خو په حقې لارې بویه

خرډک کله په خولو وینو چنار شي

ته پخپل بڅرکي ولې ناویسا یې

هم بڅرکی چې خوندي کړې سور انګار شي

شنه راستي د سروي هيڅوک خيم نه خوري
که پري تېر د خزانو نو تر پسېمار شــــي

○

د باطل د وېرېتيکي خو کليمه ده
له نيمګړو مفکورو هيڅ نه وېرېږي
د پرقامونه به د ځمکي له مخ ورک وو
خود په که سره تيغ نه وېرېږي کېږي
زېږي[1] ټول سمسور په دل شوي تر منځ کړي
تلوار کړندو! ديک پيوار باندي تودېږي
پلو يانو د روسوا ولسينن! وا ورک
دا زېږي ستا سو په وړاندي به نورېږي
بنستونه د ړوندون په يو حال وي
ادا بې مکړ له وخت سره نورېږي
ټول بدلون يا نه بدلون ړوندا نه ندی
خوارځغه دی چي يو لوري ته ځنګېږي

○

په شونکار دا باسين چي شوي پورته
ولې چپ يي د مانکي سندره نه کړه

---

۱- زېږي = زېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تا ړاکوئنه د خزان زړ گونه تېر شول
خو د سروي شنه جامه يې زړه نه کړه
چې رښتيا ويل د کومو خولو توروه
بر په دار يې له رښتيا وبله نه کړه
ړاغلل ډېر انقلابونه د لې هوري
ولې د رسته يو سالار کليمه نه کړه
مېړني په مېړني پسې لوګي شه
خو باطل سره توده يې سره نه کړه
تېرو تورو، تهمتونو او خونړي هم
هېڅ کچه د پتيالو عقيده نه کړه

چې د سروونو پياشې پکې څلېږي
شاه څلمي هم په هغو لاړو چلېږي
سر سجدې د جماتونو په پوړونو
د مېړه په يوه څه نه ارزېږي
ککرۍ د کليمانو وي تل هسکې
ښکروري ککرۍ ورنه ټيټېږي
حقملان له زماني وي پېړۍ غځې
خلق نور د زماني په دود تېرېږي

کلیمه د کائنات سره جنګړه دی

غل د رغل به له جنګه غالي پشا کیږي

ته دې خپله غاړه خلاصه په مړینه کا

دې ته مه ګوره چې کله صبا کیږي

دمیره له متو پا ځه — دنا حق جهان نسکور کا

په چینجنو وستو ګوګو — بود هیره پوري اور کا

دا خدایان د تینګي نه دي — ولې ته ستر ګي د بوُر[1] کا

د قامونو نړه ځمکه — د آدم تا لیزه کور کا

دا د غوښنو تش لوتو نه — په خلقا د جسو نور کا

د ښستن په ګنبد وکې

خپلې چاري دې اخوُر کا

په تیرو تورو برغنده ځي

نن کیالي ځي په خپل منده ځي

دمیره د خولـــو ونږ

د سپرلو له ګرده ونده ځي

---

۱. بور = نړهري.

له ښښتنه چې هم غږ وي
هغه کار هم کله شنه ځي؟
هغه پښې پرې کړې بویه
چې د خلقو په مرکنه ځي
د تسپو خاوند ته خیردی
که ځي دارلره، لونه ځي
وسپینیزې خَتّې[1] را وړه
د کلپانو آخرکنه ځي
چې په ځانګه کې پخه شي
هغه ځمکې له بې شنه ځي

چې له اوره لاشه مومي
څه یې ویره بیا له اوره
زړې مات وړوکی کور کړې
شي همغاړې له شه کوره
په چرسو[2] به ترخو سود کړې
کائنات ځني پلن پسوره
د زړې ځای پکې ورک شي
چې ژوندون کړې جامه نوره

۱ـ خَت : کمیس ـ پمنۍ، ۲ـ چرسو : تنګ ځای

## سرپخیره تل پائېږي

خیر دي نشته سرپخوره!

د فطرت په هنداره کې

له څښتنه ځان ته ګوره

چې ځانمن دی هغه کس دی

چې ناځانه دی ناکس دی

په سیلاب غرونه لرېږي

څه ارزښت د لې د خس دی

یو په لس، هم یو په سل دی

پیاوړی چې په جس دی

د هوسو د غزالې[1] نه

د زمري ورتېره وس دی

په زرګونو دلو سرد[2] له

یو بڅری د اور بس دی

ګړندو پرې ږیره ګل کړه

د مټه وُ کاروان پس دی

---

۱- غزاله = د هوسو سبل

۲- سرد = یو وابنه

زرداران خوري مدام غوښې
د خپل قام له کرکس
په درست قام یې لګولې
له پېروړاسې کرکس
دوی ریښمین له سره واخلې
قام له پاتې شي یکرس
روږي دې کاندی ولس ته
بیاکوی مانځه او دس
د بې وس ونده کوونکو!
وي ترخوبه ستاسو وس
د «لا تترکضوا» وخت لنډ دی
لاکوی هوا هوس

چې ښتکوی ظالمان شي
سینه یخه د جهان شي
چې خدایان پرمخې پرېوځي
راوچت بنیادمان شي

چې ځانګړی دوتن ورک شي

په توبنه لولنګران شي

کلیمه هله په پښو شي

د باطل بوږجل چې وران شي

زورداری کې ځانا ځان وي

کلیمه کې ټول یو ځان شي

○

پدې شعرو پرکښو کې

هم هغه ځلمی اخکور دی

چې د ټول نوغې دخیره

همه چارو کې حقطور دی

○

پور په جسو شه بیا ګوره

چې یو تن ښکه لښکر شي

د میړه له چارو بریښې

په تندی اخستی غر شي

هر دغو بر خیز تیا ده

چې خردک پاڅي نښتر شي

له تني زوخ چې اوچت شي

لکه نمر پری تل سحر شي

چې ښوندې وي د ښکار ځله
تو دې وينې خود شهپر شي
زمرين ګوا ښه شاه ځلمو ته
سلامي سنګر سنګر شي

ځوانان څه کړي دو رمې دي
ځکه يې غشي بې پلې دي
چې له بازه چټو ته ناست دي
پېغلونه يې ولجې دي
ولسات لکه تنزري
د ښکاريانو په ښپې دي
د بل مخه يې ښتوله مخه
پرکني نه دي رمې دي
د نمرود وسيلې وايي
له آذره يې عقيده دي
چې نو مړي په سرو دي
د سرو تشي پيښې دي
د باتور نخښې يې نشته
لا ملخې تولې جوڼي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو شرق زغملو نه دي
دا پڅې دومره اومې دي
پکې زه یم بوده نه شه
وجود تشې تنستې دي

د آدم ځانګړی، زه یم      لکه حق صمد احد دی
تن زابه دی ولې زه یم      لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ دی

د هر زړې په درون کې      د خپل ستر وجود انځور دی
تیغ، تنه ځانګې کلونه یې      هم کامونه په خپل لور وي

دیکرنکه برید میږونه      نیسي نور نور سنګرونه
د فطرت خوابزه لبنه دي      که ساړه نه شي متونه
لمن څه چې، ځادرخور کا      د سپرلي د پېر دي کلونه
ته لا میشت په سر پړاو یې      ځروند دې شخړې پړاوونه
خونې خونې ستور تلیږي      تازه نه کړه یو خونه
که تنها کو وته کښېني      شي کوته به منزلونه
قدم تیز کړه، چې غربیږي      ستوره تلو کې جرسونه
یوه ورځ به درته راشي
ستورکزونه بیلکونه

چې په یو هسته پیوست شي
ذرې غونډې شي تور غر شي
وړانګه ګډه شي په وړانګې
ړادبره نوی نمر شي
چې حجرې غښتلې پاخي
نو دِهِک ځاندرو سحر شي
ننګ له ننګه چې کوشير شي
هم لښکر شي، هم سنګر شي
چې سپینګیر سره صف تړ شي
هله الله اکبر شي
هڅې هڅې چې په ګوابښ شي
نو چوغې نوی په سر شي
شهسواران چې یکځ جلب شي
د برېدونو[1] لوی اختر شي
تور په تور باندې شي پورې
سترګې سترګې یو نظر شي
لارې لارې هر آسمان شي
چې همت همت وزر شي

(۱) برېدونه = ولجې، مال، غنیمت.

د ښوند پېښې شي مخ لسوځي
چې شوګیر تیره نشتر شي
چې ګټل بخښل توره شي
بیا آدم جنت ته ورشي
چې دعقل سپاره وینښ شي
پوچ خدایان هله ړبر شي

د وجود توره ژبړون دی اوړ «زه یم» نوښتون دی
نوښتون کړه دژوند تره نوښت «زه یم» له پاخون دی

یو غور ځی دی اباسین دی غروند غرونه دی یو ږنیز دی
یو هڅه دی سپوږمۍ ده یو پیر غل دی ستور تلیز دی
له تش ستر لاس او چت شوی اوس د هر غوره غوریز دی
ستا د توږي له تکوره کائنات تول سندریز دی
غره راغه دي له همته ګل لمني ګل مخیز دی
لا دښوند غرمه ده لري
دا خو اوس لاسور کهیز دی

که د ځړوند نقشونه د پردي
ته د واړه ځړوند انځور يې

نور ځړوندون دي همه پلې
همږيو ته يې چې شهسور يې

واړه ستوکي يو يو رنګ دي
ته له رنګه سپرلي طور يې

د هوسۍ په سترګه د نشه
هم باتور کسی د بور يې

د ذري په ځانده نمر يې
په قطره سمندر سپور يې

ته په ځمکه کې آسمان يې
په سر او بو کې اور يې

د لشې سره پياځه[1] يې
لاشه تور، هم تکور يې

چې راغونده شي موتې خاوري
کائنات شي چې ورخور يې

د مجرو په اړونګه کې
له ظاهر لېده څه نور يې

---

١- پياځه: د شاتو ګکبين

نور کورونه په تا تنګ دي
ته هم سیال د خدای د کور یې

مفکورې به دې هېرې پوچ شي
د دې یو کلیمې وړاندې

چې یې ښن سندرې وایي
په صبا یې وایي ساندې

په تولنو کې ژرغونه    دا ډیوې او مشالونه
د سر هنګو شاه ځلمو دی    د خولو وینو ژرنګونه
د شاه متو الامې یې    اسمانکه سنګرونه
کښېدې یې د کراو دي    وير سپېرلي شالېزارونه
د ناغوستر کوشوکیو یې    شه علمونه، حکمتونه
په نهره د جنګرېز یې    خورې وکړې شولانونه
د عقلي مبنود رشه یې    هڅوبونه، تهذیبونه

دغلي د نرګس غبن دی    پسرلي بې تا نکه راتلی شي
په اړکه چاپېریال هم    انقلاب زرغونېدی شي
عکسمته پرکښو نه    مله د لارې تولیدی شي

مېړه مل که د څښتن دی — له څښتن مځکې کېدی شي
د تیروا زغوله تخرګه — نوی ځړوند راستر کېدی شي
د فرعون له خپله درنده
کلیمان راپاڅېدی شي

○

آدمزاد لا لیشتینک دی — لا د پړلرۍ له خپل ډکٔ دي
که په ټومنه باتوران دي — لا په چاروکې لوکٔ دي
فلسفیان یې هلکٔ فکره — لا، له زړه یم بې درکٔ دي
په دې ویر لوی کائنات کې — په یو ځمکه، نمرتاوکٔ دي
که خپلوا که د پرځان بولي — چې یې ګوری لابل وکٔ دي
د شپانه ښار یې لا نه زده — شرمخان د خپل کنډکٔ دي
لا یې عقل د پرکچبه دی — لا په د پرجهلونو کلکٔ دي
د سربنوره نغوتکو — په لاسونو کې لینزکٔ دي
زبینبا کیان یې په جوش کې
هغه شان په امبولکٔ دي

○

لا په سر یې فرعونان شته — لا قارون شته، لا هامان شته
آدمزاد چې ریزکی دی — لا دو چې د پرخدایان شته
د ولاړې ځکه نه شول — چې پرې پټ شلمان شلمان شته

لا په دار مسيحا خېژي — لا لندې پاري مذهبيان شته
خليلان شړوني کسرئي — د آذر لا لښکريان شته
هر نوښت ته کفر وايي — لا مخ مختې زاړيان شته
قلمونه په اور سوځي — لا د علم غليان شته
آدمتاله لا يو خوب دی — لا د قام، خاوړي بتان شته

سړيتوب ته لوی منزل دی
لا د دوو پښو حيوان شته

○

وخت به راځي، ادمزي چي
له خپل ځانه اشنا کېږي
د څښتن او د خپل زه يم
په اړيکو چي رسېږي
وخت به راځي دا حيوان چي
د سړي په پښو پاڅېږي
وخت به راځي پوچ خدايان چي
د بربړي، نسکوړېږي
او د جهل کتابونه
د خندا توکي جوړېږي
وخت به راځي کائنات چي
ستر آدم ته بيا تيتېږي

د آدم په پاښېدو کې
لا د دېرو پېرو څند دی
د دې دوو پښو څاروی ته
لا په څټ کې لوی کولند دی

ته په بتول کائنات بر یې    خو له ځانه بې خبر یې
ملغلره یې په زړه یم    که سیپۍ په تن بهر یې
په یو څاڅکي کې توپان یې    په ذرې د ننه غر یې
بر سېرنه که لاک ښکاري    چې په جس شي نو سره زر یې
ستا توبرې توره دې "زړه یم"    هم په "زړه یم" ولجه کړی یې
که ورستی راغلی کاروان کې    خو د واړه کاروان سر یې
مینځ هستۍ ته دې پام نه دی    د بهر هستۍ په چر یې
لا نیمچه آدم یې ځکه    لا د نیم ځان روزنکری یې
انځاره کې حق ته تلیه!
د ناحقو انځورکری یې

مفکورو پوچو او خوشو
کوچنی کړی آدم زړی دي
که یې ستر کتاب په لاس شي
د خښتن د برش سری دی

الکتاب په ادم زړونـــــی
لا ژبنودن آخرني دی
که هر څو مره لغونی دی
خوهر ننکې صباني دی

حق لا اوس هـم نا ویلی
که ویلی دنـدلـه دی
فرعوني دی په خمار کې
نازېږه ی کلیمه دی
چرګ پرېږوتی سیلاب زوځی
نوح پلوی بې بېړه دی
دکعبې سپا یان جوت نه دی
آتیوان بیا په غدیه دی
یو مذهب دکمتي نه دی
دالیندی واره بې ژړه دی
خلق خبنتې د بتکور دی
ځکه ښځې آذرېـــه دی
ناپوهي دهر وکــــړی
په وګړي په غدیه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفکورې پوچې نیمګړې
ښکلکونه تېزندي دي

چې خوندي دي کړوروړه شه
چې دې و بازه خوندي شه
لاس په ظلم پورته شوی
بېرته شرق په خپل تندي شه
د باتورو جسې پې بایلل
چې د چتو وهندې شه
پولې پاڅې آدم وخوړې
چې د پولو ځای بندي شه
د خلیل ع پرې ته وتې
د بُتانو وهندي شه
چاتونګ د اسمان وخوړ
څوک ځنګلا په کړپندي شه

ښوندانه تول یو ځانیز دی
که هر څو مره کښ رنګین دی

PROPERTY OF ACKU 7550

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ د تللو په یو مخه
که هر توکی بل مخیز دی

په یوبم په زیرجار وځي
دارباب که زرتاریز دی

لاړي لاړي یوشه لاره
تل تللی، یوشه تللیز دی

ستور تللیز ستور تللین کور کور
کائنات یوشه کوریز دی

پدې دومره هِګ ځاندره کې
ځمکه ناشې غوندې څیز دی

خو ځمکه زي په شوني تیاوُ
د همه شروند د توزیز دی

په تنزومې کیراو کړه
شیش بیا واخله ویړجهان ته

چې ذره په ولکه واخلي
متې راښکه بیا شلمان ته

ستا تقدیر څه ځمکه نه ده
لاړي وباسه آسمان ته

له بېلي دریاب ته واوړه

له تنګي نه پلن دامـــان ته

غور کمنه په لینده کــړه

بیا ورکښېوزه ښـخ کمان ته

له سپېرغودي دېرشړوند وکـړ

لاس کړه اوبږ د نمــرړوبنــان ته

پوهه بوځه ځـیرکتیا له

ځـیرکي راښکه ایمـــان ته

په نـرۍ ورخوړ پـدوکي

ګرځېدلی اوسه ځـــان ته

PROPERTY OF
ARIC
Established

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library